هراړخيزه اسلامي معلوماتي خپلواکه مهالنۍ مجله

# اسلامي لارښوونه

دوهمه ګڼه مهالنۍ مجله

ذورمیاشت ۱۳۸۹ هـ ش کال/جمادي الاولی ۱۴۳۱ هـ ق

تعليم الاسلام ولسي راډيو

94.60fm کندهار

د اعلاناتو لپاره ۰۷۸۶۷۸۶۴۳۴
په خپرونوکي دګډون لپاره ۰۷۰۷۰۰۵۷۵۷
د عمومي معلوماتو لپاره ۰۷۰۳۰۵۰۷۰۰

مجله Taleem-ul-islam@hotmail.com

راډيو Email:fm94.60@gmail.com

د نبوي مسجد اړوند معلومات په (۱۴) صفحه کې مه هېروئ



# اسلامي لاربښوونه

## تعليمي ، اصلاحي او خپلواکه مهالنۍ مجله

## دتعليم الاسلام ولسي راډيو داداري لخوا

دوهمه ګڼه لومړی کال د ۱۳۸۹ هـ ش د ثور (غويي) مياشت چي ۱۴۳۱هـ ق جمادي الاولی دمياشتي سره سمون خوري

| شمېره | سرليک | ليکوال \ ژباړن | مخ |
|---|---|---|---|


۱ : سرليکنه ... ( د مېډيا اثر پر ټولنه )..... شيخ الحديث مولوي محمد عمر خطابي... ۱

۲ : داولاد روزنه ............ مولوي صالح محمد عطشان .......... ۳

۳ : سيا ست داسلام په رڼاکي........... عبدالودود هجران .......... ۵

۴ : د يوې خور دنوي ژوند قيصه ...... محمد اعظم ارغندابی.......... ۶

۵ : د ګنا پرېښودلو اسانه طريقه ...........الحاج علي احمد عادل.......... 8

۶ : په اسلامي ټولنه کي د مدرسې رول ...... قاري صالح محمد مدثر .......... ۹

۷ : دحضرت صديق رضي الله عنه فضيلت اوسپېڅلتيا ...... احمد شاه امين.......... ۱۰

۸ : اسلام او ژور نالېزم ........... مولوي عبدالهادي حماد.......... ۱۳

۹ : نبوي ﷺ مسجد.......... نويد احمد.......... ۱۴

۱۰ : د قرآنکريم هغه آياتونه چي يو ساينس پوه.. ننګيالی همت.......... ۱۶

۱۱ : انسان د څه لپاره پيدا دی ....... حافظ مولوي احمد سعيد .......... ۱۷

۱۲ : ستاسو د شرعي پوښتنو ځوابونه........شيخ الحديث مولوي محمد عمر خطابي.... ۱۸

۱۳ : اعجاز اثر انګشت...........نويسنده : داکتر محمد عارف "عرفان"........... ۲۵

۱۴ : ستاسو په اند د تعليم الاسلام ولسي راډيو د خپرونو اوريدل څومره........ _ ۲۶



**دامتياز خښتن او مسؤل مدير:**
شيخ الحديث مولوي محمد عمر خطابي .

**کتنپلاوی**

**مولوي عبدالهادي حماد**
**مولوي اختر محمد جهيد**
**قاري مطيع الله ذهين**
**استاد حبيب الله مجددی**

**کمپيوټري چاري** : محمدنبي سلطاني

**ډيزا ينر** : سميع الله عزيز


دلاسته راوړلو پتي

کندهار

۱ : ميرويس قرطاسيه پلورنځی هرات بازار

۲ : افغان کتاب پلورنځی احمدشاهي مارکيټ

۳ : کابل کتاب پلورنځی ارګ بازار

خوست .

۴ : غرغښت کتاب پلورنځی

جلال اباد

۵ : عبدالمجيد مومند کتاب پلورنځی مخابرات څلور لاري خالد ميلمستون ته نژدې.

کابل

۶ : علامه حبيبي کتاب پلورنځی صدارت څلورلاري


پتـــه : دتعليم الاسلام ولسي راډيو داستوډيم جنوب لوېديځ طرفته ، شپږمه ناحيه کندهار افغانستان .

| اړيکـې : | ژوندي خپروني | معلومات | اعلانات |
|---|---|---|---|
| | ۰۷۰۷۰۰۵۷۵۷ ، | ۰۷۰۳۰۵۰۷۰۰ ، | ۰۷۸۶۷۸۶۴۳۴ |


**د يوې ګڼې بيه ۲۵ پنځه ويشت افغانۍ**

سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com/

| د تعليم الاسلام ولسي راډيو سهارنۍ او ماښامنۍ خپروني | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| (ساعتونه) | شنبه | يکشنبه | دوشنبه | سه‌شنبه | چهارشنبه |
| ۵:30:AM | ورځنۍ وظيفه | ورځنۍ وظيفه | ورځنۍ وظيفه | ورځنۍ وظيفه | ورځنۍ وظيفه |
| ٦:00:AM | ترجمه او تفسير | ترجمه او تفسير | ترجمه او تفسير | ترجمه او تفسير | ترجمه او تفسير |
| ۷:00:AM | نبوي احاديث | نبوي احاديث | نبوي احاديث | نبوي احاديث | نبوي احاديث |
| ۸:00:AM | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات |
| ۹:00:AM | د هر کور مدرسه | د هر کور مدرسه | د هر کور مدرسه | د هر کور مدرسه | د هر کور مدرسه |
| ۱۱:00:AM | د منبر آواز | د منبر آواز | د منبر آواز | د منبر آواز | د منبر آواز |
| ۱۱:۳0:AM | اصلاحي عام پيغامونه | اصلاحي عام پيغامونه | ا اصلاحي عام پيغامونه | اصلاحي عام پيغامونه | اصلاحي عام پيغامونه |
| ۱۲:۳0:AM | دلمونځو وختونه | دلمونځو وختونه | دلمونځو وختونه | دلمونځو وختونه | دلمونځو وختونه |
| PMدقيقي 1:15 | د اوريدونکو سره ليده کاته | د اوريدونکو سره ليده کاته | د اوريدونکو سره ليده کاته | د اوريدونکو سره ليده کاته | د اوريدونکو سره ليده کاته |
| 2:00:PM | نبوي ملغلري | نبوي ملغلري | نبوي ملغلري | نبوي ملغلري | نبوي ملغلري |
| 3:00:PM | علمي مباحثې | علمي مباحثې | علمي مباحثې | علمي مباحثې | علمي مباحثې |
| 4:00 PM | پوهنيزې خپروني | پوهنيزې خپروني | پوهنيزې خپروني | پوهنيزې خپروني | پوهنيزې خپروني |
| د مازديګر او ماښام دلمونځو ترمنځ | څه‌دي ليدلي څه اوريدلي | څه‌دي ليدلي څه اوريدلي | څه‌دي ليدلي څه اوريدلي | څه‌دي ليدلي څه اوريدلي | څه‌دي ليدلي څه اوريدلي |
| د ماښام تراذان وروسته | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات | فقهي معلومات |
| د ماخستن تراذان وروسته | منتخب احديث | منتخب احديث | منتخب احديث | منتخب احديث | منتخب احديث |
| 9:۰۰:PM | ترجمه او تفسير | ترجمه او تفسير | ترجمه او تفسير | ترجمه او تفسير | ترجمه او تفسير |
| ۱۰:۰0:PM __ 11:PM | نبوي احاديث | نبوي احاديث | نبوي احاديث | نبوي احاديث | نبوي احاديث |

| د پنجشنبې د ورځې خپروني | |
|---|---|
| ۵:۳۰AM | مختلف قراء‌تونه |
| ٦:AM | د هدايت ځلانده ستوري |
| ۷:00:AM | شرعي پوښتني او د هغوی جوابونه |
| ۸:00AM | تېر ژوندته کتنه (د تليفون پر کرښه په ژوندی بڼه) |
| 10:00 AM | رغېږه اسلامي لارښوونه مجله |
| 10:۳0 AM | دسپېڅلي لاري لارويان |
| 11:AM | ستاسو نظر او استدلال (د تليفون پر کرښه په ژوندی بڼه) |
| PMدقيقي 1:15 | نبوي ملغلري |
| ۲:۰۰:PM | اصلاحي بيان |
| ۳:۰۰:PM | زه ولي مسلمان سوم |
| 4:00 PM | نبوي سيرت |
| ۵:۰0:PM | نبوي ملغلري |
| د مازديګر او ماښام دلمونځو ترمنځ | پيام منبر په دري ژبه |
| دماښام او ماخستن د لمونځو ترمنځ | د علم په سيالۍ کي د جايزو ګټونکي (د تليفون پر کرښه په ژوندی بڼه) |
| 9:00:PM | دار القراء (د تليفون پر کرښه په ژوندی بڼه) |
| PMدقيقي ۱۵: 10 | شرعي پوښتني او د هغوی جوابونه |

| د جمعې د ورځې خپروني | |
|---|---|
| 5:30:AM | مختلف قرائتونه |
| ٦:00:AM | زه ولي مسلمان سوم |
| ۷:00:AM | شرعي پوښتني او د هغوی جوابونه |
| ۸:00:AM | د سبا هيلي (د تليفون پر کرښه په ژوندی بڼه) |
| 10:00 AM | رغېږه اسلامي لارښوونه مجله |
| 10:۳0 AM | د هدايت ځلانده ستوري |
| 11:AM | د ليکونو ډالۍ |
| PMدقيقي 1:15 | نبوي ملغلري |
| ۲:۰۰:PM | اصلاحي بيان |
| ۳:۰۰PM | دسپېڅلي لاري لارويان |
| 4:00 PM | نبوي سيرت |
| ۵:۰0:PM | نبوي ملغلري |
| د مازديګر ترلمانځه وروسته | ځوشېبې د مدرسې څخه |
| دماښام او ماخستن د لمونځو ترمنځ | تنکي فکرونه (د تليفون پر کرښه په ژوندی بڼه) |
| 9:00:PM | ستاسو نظر او استدلال (د تليفون پر کرښه په ژوندی بڼه) |
| PMدقيقي ۱۵: 10 | شرعي پوښتني او د هغوی جوابونه |

# سر لیکنه

بسم الله الرحمن الرحیم

## د میډیا اثر پر ټولنه

د رنو لوستونکو!

نن ورځ چي خلگ په خپلو ښارونو ، کلو او کورونو کي د نړۍ د گوټ گوټ د حالاتو او واقعاتو څخه سهار او ماښام خبریږي همدا ټول میدیا ( رسنۍ ) دي چي خلگ په خبروي ، د دنیا په کنج او کنار کي چي څه پېښن سي د هغو تصویر او انځورونه ، په اخبارونو ، مجلو ، ویب پاڼو او د تلویزونو پر پردو ورته ښکاره کوي ، د هغو ږغونه د راډیوگانو او تلویزونو د لاري په اوروي او په لیکلي ډول یې په اخبارونو او مجلو کي په لولي .په عمومي ډول موږ میډیا پر دوو ډولونو ویشلای سو چي یوه یې اسلامي میډیا او بل یې د فسق میدیا ده البته دا وېش د میډیا د چلونکو په مټ را منځ ته کیږي ځکه د میډیا یو وسایل دي او بل یې چلونکي دي موږ د وسایلو له مخي میډیا پر اسلامي میډیا او د فسق پر میډیا نه سو وېشلای ځکه په نړۍ کي چي هر ډول وسیلي ته وگورو د هغه څخه که ناجایزه کار اخیستل کیږي جایز کار هم ځني اخیستل کېدلای سي بلکي میډیا د چلونکو د عقیدو ، افکارو ، سیاسي او داسي نورو ... لیوالتیاوو له کبله په خپل منځ کي وېشل کیږي . په نړۍ کي ډیر واقعات را منځ ته کیږي خو همدغو واقعاتو ته که ځیر سو په یوه میډیا کي یې ډېر ښه انځور ورکړی وي واقعه یې ډېره مهمه او په ښه تفصیل سره بیان کړې وي خو بلي میډیا ته چي وکتل سي په هغه میډیا کي همدا واقعه ډېره بده انځور سوي وي او یا د پام وړ واقعه نه وي بلل سوې . په افغانستان کي ددې یو مثال داسي ورکولای سو چي ډېر ځلي داسي پیښه سوې ده چي د خارجي قوتونو له خوا د ولسي خلگو پر هستوگن ځایونو بمونه و اورول سي په لس گونو ښځي ،ماشومان ،او سپین ږیري خلک تر خاورو لاندي او شهیدان سي همدا واقعه د فسق د میډیا لخوا کوم چي د همدغو جنگي جنایت کارانو هم ږغي او هم عقیده وي د برق د بریښنا په ډول د یو ځلي لپاره خپریږي او واقعه وړه او بې اهمیته کړي چي د خلکو پام د جنایت کارانو و جنایت ته را وا نه وړي او د هغو په مقابله کي یې احساسات را ونه پاریږي خو کله چي د دوی یو نفر د یوې ډلي لخوا اختطاف سي نو بیا د همدا شخص بې گناهي او د هغه د ښځي او اولادونو سره مرکې او د هغوی د پریشانۍ حالت د تلویزونو پر پردو او د راډیوگانو او میډیا د لاري په ورځو ، ورځو په مکرر ډول خپریږي څو د همدا کس سره د خلکو خواخوږي را پیدا کړي او د تښتونکي فریق په مقابله کي د خلکو کرکه او نفرت او د هغوی په وړاندي یې د دښمنۍ احساسات را وپاروي . لنډه داچي د میډیا چلونکو ته چي څه شی یا واقعه د دوی د عقیدې ، فکر ، مذهب او نورو لیوالتیاوو او گټو له مخي ښه او مفید وي نو هغه د خپلي میډیا د لاري ښه انځوروي او هڅه کوي چي د خلکو پام ور ته راواړوي او که کوم څه او پیښه د دوی د مذهب ، عقیدې ، فکر او گټو خلاف او په ټکر کي وي نو بیا یو حسین ، ښکلی او زړه وړونکی واقعیت په دا ډول تور رنگ کي خپروي چي د مینې او


سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com/

محبت پر ځاى د خلکو کرکه او نفرت ترې پيدا کيږي .خلک چي څهويني او څه اوري د هغه څخه متاثره کيږي يو شى چي خلکو ته ښه او ګټور معرفي کيږي د هماغه شي سره د خلکو مينه پيدا کيږي او د هغه د لاس ته راوړني هڅه کوي او کوم څه چي بيا بد او تاواني ورته معرفي کيږي د هغه څخه يې بيا نفرت او کرکه پيدا کيږي همدا ليده او اوريده دئ چي د اسلامي فطرت ماشوم د يهودي په کور کي سر سخته يهودي کوي او د نصرانى په کور کي نصراني ځني جوړوي او د هندو په کور کي هندو ځني جوړوي لکه چي پيغمبر ﷺ فرمايلي: عن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ ( متفق عليه و اللفظ للبخاري ) ژباړه ابوهريرة رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ .... فرمايلي دي : هر زيږيدونکى کوچنى پر اسلامي فطرت زيږي خو د هغه مور او پلار د هغه څخه يهودي ، نصراني يا د اور عبادت کونکى جوړ وي لکه څه ډول چي د څاروى څخه روغ رمټ حيوان وزيږي د هغه پزه او غوږونه هيڅ پرې نه وي يعني د زيږيدني وروسته يې غوږونه او پزه پرې کړل سي عيبي سي . مسلمانه وروره ! لکه څه ډول چي يو کوچنى ماشوم د خپل مور او پلار او د خپل کور د چاپيريال او ماحول څخه متاثره کيږي همدا ډول ميډيا پر ټولنه باندي اثر لري د ميډيا د لاري چي خلک څه اوري او څه ويني هغه يې پر زړه او ذهن اثر اچوي فرعون د بنواسرائيلو ازادي له منځه وړې وه هغوى يې د خپل قوم (قبطيانو) مريان او خادمان ګرځولي وه او په زرګونو ماشومان يې د دې ويري لکبله چي سلطنت يې ړنګ نه سي ور حلالول او د الله جل جلاله د رسول موسي عليه السلام مقابله يې کول خو بيا هم دا ټول جنايتونه فرعون ته عدالت او سم کارونه ښکاريدل نو ځکه يې خپلو نفرو ته ويل : ..... وَمَا أَهْدِيكُمْ إِلَّا سَبِيلَ الرَّشَادِ (29 غافر) او زه مو ښيله سمي لاري څخه بل لور ته نه رهبري کوم . همدا د هر باطلي لاري د څښتن دريځ دئ چي خپل بد کړه وړه ښه ورته ښکاري خپل ظلم ته عدالت وايي او واقعيتونه د خپلو عقيدو او افکارو په هنداره کي انعکاس او بيا يې د ميډيا د لاري تر نورو رسوي . په اخير کي به ووايوو چي د کفري ميډيا څخه د ټولني د خلکو په ځانګړي ډول د ځوانانو پرذهنونو دا ډول توري پردې غوړول کيږي چي بيا حق باطل او باطل به حق ورته ښکاري نو ځکه مو د ټولو مسلمانانو وړونو او خويندو څخه دا غوښتنه ده چي د فسق د ميډيا د ليدو کاتو څخه ځانونه وژغوري او د اسلامي ميډيا تر شا هر چيري چي وي د هر لوري څخه چي وي و دريږي او هم که وکولاى سي خپلي قلمي ، ژبني او مالي همکاري ورسره وساتي او همدا اسلامي ميډيا خپلي سترګي او غوږونه وګرځوي او د همدې لاري څخه حقايق ولولي ،وايې وري، ويې ويني، او ټولنه د کفري ميډيا له اثر څخه خوندي وساتي.

ستاسو د کاميابۍ په هيله شيخ الحديث مولوي محمد عمر خطابي

و السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

# داولاد روزنه

ليکوال :مولوي صالح محمد (عطشان )

نحمده ونصلي على رسوله الكريم اما بعد فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا مَلَـٰٓئِكَةٌ غِلَاظٞ شِدَادٞ لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ﴿٦﴾. ژباړه:اې مؤمنانو!تاسو خپل ځانونه اوخپلي کورنۍ له داسي اوره وساتئ چي لوګی او دسونګ مواد يې خلګ او تيږي دي، پر دې اور سختي او طاقتوري ملائکي مقرر سوي دي هغوی د الله ﷻ د هيڅ فرمان څخه سرغړونه نه کوي او هر امر يې پر ځای کوي.پوښتنه داده ايا يواځي خپل عبادت د نجات لپاره بسنه کوي؟ په همدغه ايت کي الله ﷻ فرمايلي دي چي خبره په يوازيتوب سره پاي ته نه رسيږي چي څوک يوازي په خپل عبادت مطمئن اوبې غمه سي بلکي اهل او عيال هم دجهنم داور څخه را ګرځول ضروري او اړين کار دئ. نن ورځ په ټولنه کي ډېر تر سترګو کيږي، چي يو څوک په خپله ديندراه وي، دلمانځه پوره پالنه کوي، په اول صف کي دريږي،روژي نيسي، زکاة ادا کوي ،دا لله ﷻ په لار کي خپل مالونه صرفوي مګراهل ا و عيال ته چي يې وکتل سي دمځکي او اسما ن په څېر تو پير سره لري داولاد سره يې نه دلمانځه فکر وي او نه د دين د فرائضو د پر ځاي کولو احساس ورسره وي اهل او عيال يې دګناهونو په سېلاب کي غوټه وي مګر دی په خپله په اول صف کي په پوره اطمينا ن سره ناست وي ، ښه توجه وکړئ! تر څه وخته چي انسان ته د ځان په څېر داهل او عيال دنجات فکر نه وي پيداسوی هغه نجا ت يافته نه سو ګڼلای ، او انسان په داسي ويلو سره ځان ته نجات نه سي ورکولاي چي هر سړی دخپل عمل مالک دئ که اولاد وبل طرف ته روان وي نو زه څه وکړم؟ ځکه چي اولاد دبدو څخه را ګرځول د هر کس د فرائضو په سلسله کي داخل دي که چيري څوک دخپل اولاد په لار ښونه کي کوتاهي وکړي په اخرت کي به يې مؤاخذه او ګرفت حتماً کيږي. ځيني خلګ وايي : زامنو ته مي غاړي خلاصي کړې دايوه تېر وتنه ده په مخکني ايت کي الله ﷻ فرمايي: چي اې ايمانداره وګړو! تاسي خپل ځان اوکورنۍ دجهنم داوره څخه وساتئ په حقيقت کي په دې اية کريمه کي د يو بې ځايه عذر اوبهانې جواب هم دئ هغه دا چي نن ورځ يې ډېر انسانان وړاندي کوي کله چي چاته وويل سي چي خپل اولاد ته ديني تعليم ورزده کړه او څه ددين خبري ور وښيه او ددين پر لار يې برابر کړه او د ګناهونو څخه يې وژغوره ددې په جواب کي ځني کسان داسي وايې، چي ما خپل اولاد ته هدايت او لار ښوونه کړېده او ډېر کوښښ مي وکړی مګر ماحول او چاپيريال خراب دئ چي هر څه چي يې مستقيمي لاري ته را بولم زماخبره نه مني د بدو خلګوسره د کښېنستلو په وجه نه سميږي زه يې يوې لاري ته را بولم دی بله لاره اختياروي اوس نودده عمل دده سره او زما عمل زما سره دئ زه څه وکړم او په دليل کي داهم وايې چي د حضرت نوح عليه السلام زوي کافر وو او نوح عليه السلام د طوفانه څخه نجات نه سو ورکولای همدا ډول ماهم ډېر کوښښ وکړی او ډېر مي خپل اولاد سمي لار ته راو بلئ مګر دی يې نه مني اخر زه څه وکړم؟ ايت ته که پام وکړو د اولاد داصلاح لپاره همدومره کول اوبيا لاس تر زني کښېنستل دا يوه تشه بهانه ده ځکه په ايت کي د اور لفظ ذکرسوئ دئ او دې طرفته يې اشاره کړې ده چي موراو پلار به د خپل اولادو مستقيمي لاري ته درا وستولو په اړه دومره کوښښ کوي لکه څنګه چي دوئ په دنيا کښي کو ښښ کوي چي خپل ګران اولاد اور خو لاڅه يوازني تکليف ته يې هم نه پرېږدي. فرض يې کړئ که يو لوئ اور تيار سوی وي او په غړمبهار وي او د دې اور په اړه يقيني وي که څوک ور داخل سي هلا کيږي ژوندی نه پاته کيږي اوس نو که يو بې عقل ماشوم دغه اور خوش منظره او خوبصورته وګڼي او دهغه وطرفته ورروان وي مور اوپلار به يې په دغه وخت کي څه کوي؟ ايا د ليري څخه ارام کښېني او نصيحت ورته شروع کوي چي اې زويه! اور ته مه ننوځه او دا اور ډېر خطر ناکه دئ که ور ننوزې وبه سوځل سې او مړ به سې ،ايا يو مور او پلار به يوازي په دغه وخت کي په ژبني نصيحت بسنه وکړي او دنصيحت او هدايت باوجود که اولاد همدغه اور ته ورسي وسوځول سې په خالي نصيحت کولو سره دئ خلاص ګڼل کېدلاي سي چي ما خپل اولاد پوه کړی او خپل فرض مي پای ته ورساوه او هغه ونه منله پخپله خوښه يې داور لار ځانته غوره کړه په دنيا کي به هيڅ مور او پلار داسي ونکړي که ريښتيني مور او پلار خپل اولاد دهلا ک کوونکي اور و خواته روان ووينې خوب خوراک او ژوندون به پر حرام وي تر هغه وخته پوري چي خپل اولاد يې په غېږ کي نه وي را پورته کړی او له دې هلاک کوونکي اور څخه يې نجات نه وي ورکړی.الله ﷻ فر مايي:کله چي تاسو خپل اولاد ته ددنياوي اور څخه د ژغورلو په لار کي په ژبني لار ښوونه بسنه نه کوئ نو د جهنم هغه اور چي اندازه او تصوريې په دنيا کي نه سي کېدلای دهغه څخه د

ساتلو په لاره کي څنګه يواځي په ژبني هدايت او لار ښونه اکتفاء کوي او کوم انسانان چي دحضرت نوح عليه السلام دزوی مثال په دليل کي وراندي کوي هغه څکه بېځايه دئ چي نوح عليه السلام خپل زوی ته تقريبا نهه سوه کاله هدايت او لار ښونه وکړه د دې با وجود هغه سمه لار غوره نه کړه  ايا دنهو سوو کلونو وروسته به پر نوح عليه السلام کومه مؤاخذه او مسئوليت پاتي وي لکن زموږ حال د افسوس دئ چي په يو ځل يا دوه ځله لار ښوونه کولو سره موږ بسنه کوو او بيا وايو، چي موږ خپله ذمه واري پای ته ورسول نن ورځ زموږ په ټولنه او معاشره کي  داولاد په اړه دهر څه فکر موجود دئ چي ښه دنيوي تعليم ورکړي يا ښه کاسب او کمال داره سي خوراک اوڅښناک يې برابر سي او داغوستلو سامان الات يې برابر سي او ښه موټر او موټر سايکل ورته مهيا سي الغرض دهرڅه دسمولو فکر سته مګر ددين فکر نسته زموږ په ټولنه کي داسي وګړي ډېر تر ستر ګو کيږي چي وايي زوی مي ډېر کمال داره ښه مقام او رتبه لري او ښه شتمن او بډايه دئ مګر لږ څه بې دينه دئ نور يې هرڅه کار برا بر دئ اوس تاسي فکرو کړئ چي دا صاحب دخپل زوی په اړه وايي زوی مي عزتمن او هرڅه يې سم دي يواځي بې دينه دئ دغه دين داري داسي زائد کار او وظيفه ګڼي چي هيڅ اهميت نه ورکوي سره ددې چي نوموړی پلار خپل ځان متقي او د ين داره هم ګڼي دا يو حقيقت دئ څوک چي ديانت او تقوی ونلري اصلا هغه هلاک او برباد دئ هر څه يې خراب دي هغه مشهوره خبره ده چي يو څوک مريض و بالاخره نبض يې ودرېدئ دوستانو يې شفاخانې ته راوړي رنځ پوهانو (ډاکټرانو) وويل چي دا کس انتقال کړئ او مړ دئ يو دوست يې وويل چي ندئ مړ څکه دبدن غړي يې صحيح او سالم دي صرف او صرف ساه يې وتلې ده ډاکټرانو ورته وويل: چي دغړو سم والي يې څه فايده کوي همدغه مرګ دئ چي روح او ساه يې ووځي نن ورځ زموږ په ټولنه کي هم  داسي ويل کيږ ي چي فلاني کس صرف بې ديني لري نور يې هرڅه سم دي دالله تعالی يو سنت کړنه په يو مقدس حديث کي بيان سوې ده کوم څوک چي د يو چا د راضي کولو لپاره الله جل جلاله ناراض کړي الله جل جلاله به هغه شخص د ده پر سر مسلط کړي تاسو تجربه وکړي نن ورځ زموږ دغه صورت حال دئ چي دخپل اولاد دراضي کولو او هوساينې لپاره دنيوي کوښښونه کوو او وايو چي اولاد مې رتبه او عزت  پيدا کړي شپه اوورځ په دنيوي کار و بار بوخت وي او داولاد دابدي ژوندانه دسمون هيڅ فکر ورسره نه وي او هيڅ يې د دينداری او ديني تعليم

په اړه فکر نه کوي په داسي کړنه سره الله جل جلاله ځني ناراضه سي اخر دغه اولاد دمور او پلار نافرماني پيل کړي او ددوی پر سر مسلط سي او دمور او پلار لپاره يو عذاب جوړ سي لامل يې دادئ چي مور اوپلار داسي کړي وه چي په خپل اولاد يې سر نه ګرځاوه دنيوي ګټې يې په کولې ديني تعليم يې نه په کاوه او سمي لاري ته يې لاربنوونه نه ورته کول دصالحانو خلګو په ناسته پاسته يې نه امر کاوه او د لمانځه او عبادت لاريې نه ورته بيانوله پر دغه برسېره يې دعريانۍ او فحاشۍ چاپېريال ورته جوړ کړي و هر څه چي به يې غوښتل هغه ورته اماده وه او د نفساني او شيطاني غوښتنو لاري يې ورته تياري کړي وې د دې ټولو کړنو او بې پرواهيو پايله دا سوه چي نن ورځ د اولادونو څخه ډېر پلرونه ناراضه دي دمور او پلار نافرمانۍ شروع ده خپل اولادونه يې هيڅ پروا نه کوي اطاعت يې د سره هيڅ نه پېژني نن ورځ والدين ناست دي ژاړي چي زموږ فکر و اولاد به مو عزتمن سي او موږ به په هوسا اوارام سو دا څه وسوه چي خپل اولاد مورپلار ته بلاسوه.دغسي مو کړي همداسي به درسره کيږي يو محقق فرمايلي دي.

اندرون دریا تختہ بند م کردہ   باز می گوئی کہ دامن تر مکن ہوشیار باش

يعني اول دي زما لاس او پښې راوترلې او په درياب کي دي لاهو کړم او بيا راته وايې چي هو ښيار اوسه لمن دي  لنده نه کړې .که تا اول په خپل اولاد ديني تعليم کړی وای او دمستقيمې لاري هدايت دي ورته کړی وای ولې به يې انجام داسي ويجاړ او خراب وای اولاد که پر مستقيمه لاره برابر سي د دنيا د خوشحاليو تر څنګ  دايوه صدقه جاريه هم ده چي مور او پلار  ته به يې ثواب ترمرګ وروسته ورسيږي لکه چي د پيغمبر اسلام صلی الله عليه وسلم ارشاد دئ :کوم څوک چي د دنيا څخه کوچ وکړي ددرو عملونو پرته يې نور ټول عملونه قطع کيږي يو ديني علم چي دهغه څخه خلګ ګټه او فايده اخلي دمثال په ډول يو عالم تصنيف وکړي يو کتاب جوړ کړي او خلګ دهغه  څخه فايده اخلي يا څوک شاګردان تر شا پريږدي او خلګ  دهغه څخه ديني زده کړه کوي . دوهم يو څوک چي صدقه جاريه لکه  مسجد، مدرسه ، پل ، شفاخانه ياکوم بل شی د خلکو د فايدې  لپاره جوړ کړي اوخلګ دده ترمرګ وروسته فايده تري اخلي .دريم: يو څوک چي صالح اولاد تر شا پريږدي او هغوئ دعا ورته کوي ثوابونه يې مور او پلار ته وررسيږي.

# سیاست د اسلام په رڼاکي

ليکوال عبدالودود هجران

د عربي ژبې د سیاست کلمه د انګلیسي د (Politic) د کلیمې د معناسره ورته والی نه لري بلکې د عربي ژبې د سیاست کلمه هر اړخیزه مفهوم لري لکه د نفس اصلاح کول ، کورنی سیاست ، تعزیري سیاست ، او ټول اصلاحي کارونه د همدې کلمې په مفهوم کې شامل دي خو د انګلیسي ژبې (Politic) کلمه یوازې د ملکي ، ملي او حکومتي سیاست لپاره کارول کیږي ، چې په عربي ژبه کې یې مرادفه کلمه السیاسة المدینة ده . Politicیوه یوناني کلمه ده، چې د پولیس څخه اخیستل سوېده او معنا یې ښاري حکومت دی. د سیاست لغوي معنا : سیاست د امارت په وزن د ساس یسوس څخه د قال یقول په وزن د مصدر صیغه ده، د نوموړي فعل مصدر د سوس قول په وزن هم راتللای سي اسلامي پوهان د سیاست د پېژندنې په هکله په دې نظر دي : علامه ابن خلدون رحمة الله علیه د سیاست په باره کې داسې وايي :(فالسياسة والملك هى كفالة للخلق و خلافة الله فى العبادلتنفيذ احكامه فيهم )سیاست او حکومت د بندګانو د ساتنې او د هغوی د ګټو د ساتنې او کفالت او په بشري ټولنه کې د الله جل جلاله احکامو د پلي کولو د پاره د الله جل جلاله نیابت او استازیتوب دئ. شاه ولی الله محدث دهلوی رحمة الله علیه دا ډول فرمایلي دي چې: (وهى الحكمة الباحثة عن كيفية ربط الواقع بين اهل المدينة ) سیاست او حکومت د هغه فن نوم دئ چې د یوه هیواد د وګړو ترمنځ د ټولنیزو اړیکو د کیفیت څخه بحث کوي . او یو بل عالم او د اسلامي چارو کارپوه راغب اصفهاني رحمة الله علیه د سیاست په پېژندنه کې درې شیان راښیي : عمارة الارض ( د ځمکې آبادول او د هغې پرمختګ او جوړول ) ، تنفيذ احكام الله ( د الله جل جلاله حکمونو جاري کول ) ، مكارم الشريعة ( د ښو اخلاقو خوښول) د فقهاؤ له نظره د سیاست روښانه مفهوم د اصلاحي تدبیرونوخوښول او کسبول ، د حکومت نظم او غوره چارې پر مخ بېول دي . ابن عابدین رحمة الله علیه وايي :وهذا تعريف للسياسة العامة الصادقة على جميع ما شرعه الله تعالى لعباده من الاحكام الشريعة ژباړه :د سیاست د غه تعریف پرهغوټولو چارو اوتدبرونوباندې صادقیږي چې الله جل جلاله خپلو بندګانو د اصلاح لپاره مشروع کړي دي . ابن نجیم رحمة الله علیه هم د سیاست په اړه په همدې نظر دی،خو د فقهي په کتابونو کې د سیاست کلمه په عمومي ډول د ( تعزیري سزاګانو ) د پاره کارول سوې ده ، هغه چې د قرآن او سنت د ښکاره نصوصو څخه په ډاګه سوي نه وي ، خو د شرعي قواعدو مطابق وي او مقصد يې د ټولیز مصلحت مراعت او د فساد له منځه وړل وي . سیاست هغو تدبیرونو ته ویل کیږي چې د هغو په واسطه د ټولنیزو ګټو او مصالحو ساتنه وسي ، او د جرایمو د سزا څخه موخه هم د مجرمینو اصلاح او د خلکو د مال ، ځان ،عزت ،او ابرو ساتنه ده ، همدا لامل دئ چې د سیاست د لغوي معنا مفهوم پر دغو سزاګانو باندې تحقق پیداکوي . حدود څه شي دي ؟حدود هغو سزاګانو ته ویل کیږي چې د قرآنکریم د ښکاره آیاتونو او یا هم د صحابه رضي الله عنهم د اجماع څخه ثابت او ټاکل سوي وي لکه : د زنا ، غلا ، قطع الطريق ، شرابو چیښلو قذف حد ....دلته زموږ موضوع د سیاست اړخونه دي نو ځکه مو پورته توکي ولیکل،چې په سیاست پوري اړه لري .پورتني تعریفونه په نظري سیاست او علمي سیاست پوري اړه لري خو د عملي سیاست بنسټ پر سیاسي تجربو اېښودل سوی دئ ، د سیاسي مفکر او سیاسي قائد تر منځ توپیر همدومره دئ لکه د علم او عمل تر منځ او یا هم د فکر او تجربې تر منځ ځکه:چې یوازې د سیاست د فلسفې په زده کړې یو شخص سیاسي مشر نه ګرځي .یو څوک د انجنیرۍ د فاکولتې د پای ته رسولو او یا د انجنیرۍ د کتابونو په لوستلو سره پوره انجنیر نه سي جوړېدلای تر څو:چې د پراکتیک دوره تر سره نه کړي او یا هم د نورو ماهرو انجنیرانو لخوا په عملي ډول ونه روزل سي . نو په دې اساس د انساني ټولنې د پرمخ بېولو فلسفه او د حکومت دارۍ په اصولو او قواعدو پوهېدلو باندې شخص سیاست پوه (Political scientis) او فروفیسور خو جوړیږي ، مګر سیاسي لاربنود او د نظام بشپړ چلوونکی نه سي کېدلای تر هغه وخته چې په عملي توګه سیاسي تجربه تر لاسه نه کړي او د سیاست په میدان کې رول ونه لوبوي.

. ماخذونه :۱-المنجد ۳۶۲ مخ د سوس ماده . ۲-د اسلامي حکومت نظام ۲۰۰ مخ د مولانا حامد الانصاری ليکنه ۱۹۵۶ عیسوي کال د هندوستان ډهلي چاپ . ۳-مجموعه شامي ۳ ټوک ۲۰۴ مخ-بحر الرایق ۵ ټوک ۱۱ مخ ۴- مدخل الی علم السیاسة د ډاکټر جمال الاتاسي ۷ مخ د دمشق چاپ ۵- اسلامي سیاست د مولانا ګوهررحمن ۱۴ مخ پېښور چاپ ۱۳۸۳

## دیوې خور د نوي ژوند قیصه

ژباړن : محمد اعظم ارغندابی

زما عمر د څلېرویشتو کلونو دئ.زما پلرکي د کمبوډیا د یوې چیني کورنۍ سره دئ چي ۲۰ کاله وړاندي د کمبوډیا څخه فرانسې ته کډه او هلته ځای پر ځای سوې وم.زما د مور او د پلار تعلق د بودا د مذهب سره و، لیکن تعلق یې فقط رواجي و ، هغوي به کله کله د بودها د یوڅو ډېرو په وړاندي څه عبادات کاوه او بس،ما په دې اړوند د دوی څخه سوالونه کول هغوی به جواب نه راکاوه،هغوی پر عقلي بنیاد زما د قانع کولو کوښښ هیڅکله نه دئ کړی،د عقیدو او رواجونو له لحاظه فرانسه پر مختلفو رواجونو یوه مشتمله ټولنه ده، د مذهب د لحاظه د عوامو اکثریت یې کاتولیک عیسویان دي، لیکن پر ټولنه باندي یې د یهودانو او کمونستانو اثر ډېر زیات زور دئ او دا خبره هم حقیقت ده چي اسلام یې دوهم غټ مذهب دئ، د ابتدائي اباد یدو په وخت کي د مراکش، الجزایر، تونس، او منځنۍ افریقا څخه په سل ګونو مسلمانان دلته را کډه سول او اوس ددوی د اولادونو ډېر زیات تعداد دلته موجود دي، داسي پروپاګندې خپرېږي چي دغو مسلمانانو دلته داسي ډلي منظمي کړي دي چي کله ،کله د بم چاودني کوي او د ترهګر ی چاپېریال منځ ته راوړي.د فرانسې مقامي اوسېدونکي پر همدې بنیاد د اسلام یادونه د ویري او نفرت په ګډ احساس سره کوي،لنډه دا چي ما د اروپا د داسي نسل په منځ کي خپل د شعور سترګي خلاصي کړې چي د مذهب د ټولو ارزښتونو څخه متنفر او بېزاره وو، د مکملي ازادۍ غوښتونکي وه ، د کوچني او غټ ټولنیز روایتونو په بر بادولو کي ځنډ نه کاوه، په مکتب او پوهنتون کي زما همصنفیان د ډول ، ډول نژادونو څخه وه،د کمبوډیا څخه تر الجزایر پوري، موږ د یوه اوبل د عقیدو څخه بې تفاوته و،په دې ماحول کي مذهب یو بې کاره او د هغه په اړه کومه خبره کول یوه بې عقلي ګڼل کېږي، تاسو ته ځرګنده سوه چي زما روزنه په څنګه چاپېریال کي سوی ده.زه د یوه مذهب هم قائله نه وم او د اسلام په اړ ه خو زما فکر ډېر منفي و چي په ټوله اروپا خصوصا په فرانسه کي د اسلام د هر اړخ د بدنامولو کوښښ کېدئ،څنګه چي مي شعور او عقل پخېدئ، ما به اکثره په یوازیتوب کي غور او فکر کوی چي په کائناتو کي یو لوی طاقت موجود دئ، کائنات او د دې نړۍ حیرانونکی نظام پخپله منځ ته نه دئ راغلی،دا لمر، سپوږمۍ، ډول ،ډول فصلونه،سمندرونه،غرونه او بې شمېره مخلوقات، بېله خالق څخه هیڅ امکان نه لري،د قدرت په نظام کي داسي هما اهنګي او د اتوم څخه تر ستورو پوري هر څه داسي پر خپل مقام باندي په عظیمه توګه جریان لري چي پر ته د خالق څخه یې د وجود فکر کول بې عقلي ده،پر همدې بنیاد زه د یوه ستر طاقت د وجود لېواله وم لیکن د یوه مذهب فکر کول یوه ډېره لیري خبره وه. زه دا خبره خپله نیک بختي بولم چي د لوړ تعلیم لپاره ما په یوه داسي پوهنتون کي داخله واخستل چي د کور څخه لیري او هلته د مسلمانانو شاګردانو شمېر زیات و،له دې کبله چي زما فکر د مسلمانانو اړوند مثبت نه و نو ما په ابتدا کي خپل عافیت د مسلمانانو څخه په لیري پاتي کېدو کي لیدئ،لیکن ما دا خبره محسوسه کړل چي ددوی اکثریت د اروپائي زده کونکو په مقابل کي ډېر باوقاره او عزتمند و، د اسلام د نه غوښتلو سره سره زما په زړه کي د اسلام سره د میني عنصر پیدا سو،معلومات را ته وسو چي زما خداي ﷻ موجود دئ، واحد دئ او په خپلو صفتونو کي بې مثاله دئ،را ته معلومه سوه چي د اسلام دوې معناوي دي، د خداي پاک مکمل اطاعت ، امن او عافیت،او مسلمان په اصطلاح کي هغه کس ته ویل کیږي،چي د خداي پاک و رضا ته ځان تسلیم کړي.ددغو مسلمانو ځوانانو څخه چي مي کله دا واورېدل ډیره حیرانه سوم چي اسلام ښځي ته څومره مقام ورکړی او څومره یې نازولې ده.ماته څرګنده سوه چي د یهودیت، عیسویت او بودا مذهب په پرتله د اسلام یوه ښوونه هم د عقل او فهم په خلاف نه ده. د مسلمانو هم صنفیانو د تحریک له کبله مي د اسلام د مذهب مطالعه شروع کړه او په همدې وخت کي د فرانسې د یوه سرجن او ساینس دان موریس بوکایې کتاب قران او ساینس ډېره متاثره کړم،او دا معلومات را ته وسو چي د ساینس او کائناتو په اړه انجیل کومي څرګندوني کړي دي هغه ټوله غلطي دي او غلطي ثابتي سوي دي، لیکن پر بل اړخ بیا قرآن چي کومي فیصلې او رایې ورکړي دي هغه ټوله رښتیني ثابتي سوي دي. زما عقل او فکر یو منل سوی استدلال قانع

کوي،زه د عقل او دليل پر خلاف هيڅ خبره نه قبلوم،خوشبختانه د قرآن په هکله د ساينس څېړونو زه ډېره زياته اغېزمنه کړم،لکه څنګه چي لمر او سپوږمۍ په خپل مدار کي ګرځي،په سمندرونو کي څنګه د خوږو او تروو اوبو تر منځ پرده وي، او لکه څنګه چي په دنيا کي هيڅ شی بغير د اوبو څخه ژوند نه کوي، و جعلنا من الماء کل شی ء حی، لکه څنګه چي دغه حقيقتونه په قرآن کي ذکرسوي دي، ددي څخه ثابتيږي چي قرآن د انسان تخليق نه دئ.دا د خداي کلام دئ او د هر اعتبار څخه ابدي حيثيت لري. بيا ما د قرآن عظيم الشان يوه فرانسوی ترجمه تر لاسه کړه او د هغه په لوستلو مي شروع وکړه، په شروع کي مي ځيني خبري و نه فهمولې او زه يو څه فکر جنه هم سوم، د مثال په ډول چي په جنت کي خدای پاک نارينه وو ته حوري ورکوي،بيا ما ډيري دعاوي وکړی چي خدای پاک زما ذهن خلاص کړي،او د خپلو مسلمانو ملګرو څخه به مي هم سوالونه کول،په نتيجه کي زما په فکر کي ټوله سوالونه حل سوه او په دې باوري سوم چي قرآن عظيم الشان په مادي او روحاني لحاظ د بني آدم رهنمائي کوي.د قرآن عظيم الشان څخه ما ته د حضرت عيسی عليه السلام صحيح پيژندنه وسوه،او دا مي يقين سو چي هغه يو تاريخي ارزښت درلودئ.ليکن انجيل چي د دې پاکي هستې اړوند کوم د تهمت جال غوړولی دئ،په هغه سره دده شخصيت په شکونو کي لويدلی دئ،د قرآن د مطالعې څخه راته معلومه سوه چي د عيسويت ټولي عقيدې بې بنياده دي، د عقل څخه خلاف دي او هيڅ تاريخي حيثيت نه لري،په دغه ضمن کي ما د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د مقدس ژوند مطالعه شروع کړه او د هغه څخه ډېره زياته اغېزمنه سوم، راته معلومه سوه چي د اروپا مذهبي علماو او تاريخ پوهانو د محمد صلی الله عليه وسلم په اړه څومره درواغ ويلي او د څومره بهتان څخه يې کار اخيستی دئ، د محمد صلی الله عليه وسلم ژوند خو بې حده ډېر زيات پاک و او په هر لحاظ د انسانيت لپاره يوه عظيمه نمونه ده. په دغه ډول په اسلام کي زما معلومات زياتېدل،او شکونه مي ليري کېدل او يقين مي پخېدی،ماته په ښه ډول معلومه سوه چي اسلام پخپله په خپلو ښوونو کي په مکمل ډول يو فطري مذهب دئ. که يو څوک د خپل ضمير څخه کار واخلي،انصاف او توازن و مخي ته کښېږدي او په فکر سره د پيغمبرانو پر ښوونو غور وکړي نو پر هغه باندي به د يهوديت او عيسويت کمزورياني او اختلاف ښکاره سي او هغوي به د اسلام پر ښېګڼو باندي قايله سي. په ذهني ډول ما ته د اسلام د عظمت ادراک سوی و،ليکن هيڅ نه پوهېدم چي څه وکړم.د اسلام د قبلولو څخه ماسيوا مي بله چاره نه درلوده، ليکن د اسلام په قبلولو کي ډېر خطرونه راته متوجه وه،زما مور او پلار او زما نور قريبان د اسلام قبلول هيڅ نه خوښوي،بيا به څه کيږي؟ماته څه کول په کار دي،په فکر فکر سره زما لوږه او خوب والوتل. بيا يوه شپه زه پر سجده سوم، د الله جل جلاله په دربار کي مي په ژړا دعاوي وکړي، ،ياالله جل جلاله زما لاربښوونه وکړې، ماته صحيح لاره را وښيه،زه ډېره کمزورې يم،ما ته همت او طاقت را وبخښې او پخپل فضل سره زما نصرت وکړې،ستا د نصرت څخه پرته زه د خپلې ټولنې د چاپېريال مقابله نه سم کولای. کله چي ما د سجدې څخه سر را پورته کړی نو ډېر سکون راته په برخه سوی و، ډېره مي له منځه تللی وه، زه په دې باور سوم چي هر څه پيښيږي زه به اسلام قبلوم، خوشبختانه دا د روژې مياشت وه، د روژې اخري ورځي وې،ما په خوب کي خپل ځان پر لمانځه وليدی، او په دوهمه ورځ ما د خپلو ملګرو په وړاندي د شهادت کلمه ولوستل او مسلمانه سوم، ما تر يو کال پوري دغه پيښه د خپل مور ، پلار او ټول خاندان څخه پټه ساتلې وه، کله چي بله روژه راغله نو د عيسويانو د اختر رخصتياني هم په دا غه مياشت کي وې،ما بايد روژې نيولي وای ليکن دغه رخصتياني ماته د خپل مور او پلار سره تيرېدل پکار وې، ددې څخه مي بله هيڅ چاره نه درلوده چي دغه راز مي مور او پلار ته ښکاره کړم،زه کور ته ولاړم او مابنام مي د شراب چښلو او خنځير د غوښو د خوړلو څخه انکار وکړ،او ما دوئ ته وښودل چي زه مسلمانه سوې يم او ټولو غالمغال جوړ کړ،مور ،پلار،ورور، خور او اکا مي ډېر زيات پرېشانه سول، ټولو ډېره و ترټلم او ځينو خو بيا لاس هم را باندي پورته کړی،مور مي راته وويل که ته مذهب تبديلول غواړې نو عيسوي سه،زه تا پخپله د عيسويانو و کليسا ته بيايم،ما د دوي د قانع کولو ډېر


سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com/

زيات کوښښ وکړئ چي د اسلام اړوند د دوئ دريځ صحيح نه دئ،د اسلام ټولي ښوونې د عيسويت،يهوديت پر خلاف د فطرت او عقل سره برابري دي،يهوديانو ، د اروپا عيسوي لاربښوونکو او مورخينو د اسلام او مسلمانانو اړوند څه ليکلي دي هغه صحيح نه دي،ليکن زما مور او پلار او زما خاندان ډېر جذباتي سول،هغوي زما خبره هيڅ نه واورېدل،هغوي به په وارو وارو راته ويل چي تا د ناپوهانواو ترهګرو خلګو د مذهب په قبلولو سره زموږ د ذليله کولو کوښښ کړئ دئ او که تا د دي فيصلي څخه لاس وا نه خستی نو په دي کور کي ستا لپاره هيڅ ځای نسته، ليکن د الله ﷻ شکر دئ چي ما د دوئ د ټولو ننګونو په جواب کي وويل چي هر څه کيږي زه هيڅ کله د اسلام لاره نه پرېږدم، نتيجه يې دا سول چي يوه ورځ هغوی زه ډېره زيا ته ووهلم او د کور څخه يې په زوره وايستم. زه و پوهنتون ته ولاړم او خپل ټول مسلمانان ملګري مي د حالت څخه خبر کړل، ټولو ما ته د حق پر لاري د ثابته پاته کېدلو مبارکي راکړل او د هر ډول مکمل کومک کولو يقين يې راکړی.د خدای ﷻ شکر دئ چي په دوی ټولو کي نيک، شريفه او لايق ځوان زما لاس نيوی وکړئ او د واده وړانديز يې راته وکړی،ما دا د الله ﷻ له طرفه يو نعمت وګڼی او دغه وړانديز مي ومنی، او زه اوس نن ورځ د خپل نوي دين سره، په نوی کورنۍ کي،د خپل انتهائي مهربان خاوند په ملګريتوب کي ډېره د راحت او خوشحالی ژوند تېروم، او هر وخت د الله ﷻ شکر ادا کوم.

## د ګـــناه پرېښودلـــو آسانـه طريقه

ژباړه علي احمد عادل

وابراهيم بن ادهم رحمۃ اللہ علیہ ته يو کس راغلی ورته ويې ويل: اې داسحاق پلاره! زه پر خپل ځان باندي اسراف کوونکی يم. ما ته داسي يو څه راوښيه، چي د هغه په واسطه د اسراف د بد عادت څخه خلاص سم. حضرت ابراهيم رحمۃ اللہ علیہ ورته وويل: که دي پنځه خاصيتونه قبول کړه او پر هغو پنځو دي واک او قدرت پيدا کړئ، نو تا ته به هيڅکله هم ګناه تاوان ونه رسوي. هغه وويل: راوي‌ښيه، بن ادهم رحمۃ اللہ علیہ وفرمايل: لومړی: کله چي اراده وکړې چي د الله ﷻ نافرماني وکړې، نو د الله ﷻ د رزق څخه څه مه خوره. هغه شخص وويل: نو د کوم ځای څخه زه خوراک وکړم، دا ټول په ځمکه کي د الله ﷻ د رزق څخه دي بيا ابراهيم رحمۃ اللہ علیہ وويل: عجيبه ده، نو دا ښايي چي د هغه د رزق څخه خوراک کوي او امر يې نه مني؟ هغه شخص وويل: نه، هيڅکله نه. او دوهم راته وښيه! ابراهيم رحمۃ اللہ علیہ وويل: کله چي ته اراده وکړې چي د الله ﷻ د امر څخه خلاف کار وکړې نو د هغه پر ځمکه مه اوسېږه. هغه شخص وويل: دا خو ډېره ګرانه خبره ده، نو چيري ولاړ سم چي هلته ګناه وکړم؟ ابراهيم رحمۃ اللہ علیہ وويل: آيا تا ته ښايي چي دهغه پر ځمکه اوسېږې او امر يې نه منې؟ هغه وويل: نه. دريم راته وښيه! ابراهيم رحمۃ اللہ علیہ وويل: سره له دي چي ته د الله ﷻ د رزق څخه خوراک هم کوې او د هغه په ځمکه کي هم اوسېږې، خو بيا هم د الله ﷻ نافرماني ته زړه ښه کوې او ګناه کوې، نو په ځمکه کي داسي ځای ولټوه چي هغه الله ﷻ دي ونه ويني او ته يې نافرماني وکړې. هغه شخص وويل: يا ابراهيم! داسي کله کېدای سي!؟ هغه الله ﷻ داسي ذات دی چي په ټولو پټو سره تر هر چا ښه خبر دی. نو ابراهيم رحمۃ اللہ علیہ ورته وويل: آيا تا ته ښايي چي د هغه د رزق څخه خوراک کوې، او د هغه پر ځمکه اوسېږې، او سره له دي چي هغه په ټولو پټو او ښکاره خبر دی، ته د هغه د امر څخه خلاف کار په ښکاره سره کوې.هغه شخص وويل:نه ښايي. څلورم راته وښيه! ابراهيم رحمۃ اللہ علیہ ورته وويل: کله چي (ملک الموت) ددې لپاره درته راسي چي ستا روح قبض کړي، ته هغه ته ووايه چي ما ته يو څه وخت راکړه چي توبه وکاږم او نيک کار ونه شروع کړم، بيا مي وروسته روح وکاږه. هغه شخص وويل: آيا دا امکان لري؟ (عزرائيل عليه السلام)خو د چا خبره نه مني د الله ﷻ په امر په ټاکلي وخت روح قبضوي. ابراهيم رحمۃ اللہ علیہ ورته وويل: چي هغه (ملک الموت) تا ته راتګ کوي او ته نسي کولای له مرګ څخه ځان خلاص کړې او توبه وکاږې، نو بيا ولي داسي بېغمه اوسېږې، لکه ته چي د مرګ څخه خلاصون پيدا کولای سې. هغه شخص وويل: نو هغه پنځم او آخري هم راته وښيه. ابراهيم رحمۃ اللہ علیہ ورته وويل: ته د الله ﷻ پر ځمکه اوسېږې، د هغه رزق خورې، او د هغه نافرماني کوې په داسي حال کي چي ته هر چيري يې هغه ديويني، او کله چي د مرګ وخت دي راسي د توبې کولو وخت هم نسي پيدا کولای نو کله چي د قيامت ورځ راسي او د الله ﷻ د نافرمانی په سبب د عذاب ملائکه د ته راسي، ترڅو تا د جهنم اور ته ورکش کړي، هغه وخت ته مه ورسره ځه. هغه وويل: د عذاب ملائکه به مي کله پرېږدي چي اور ته مي ورکش نه کړي. نو بياابراهيم وويل: بس همدومره ما ته بسنه او کفايت کوي، استغفرالله واتوب اليه. او بيا دغه شخص پر توبه کښلو وفا وکړه او د ګناهونو څخه يې پرهيز وکړ ترڅو چي د دنيا څخه جلا کېدئ.



# په اسلامي ټولنه کې د مدرسې رول

ليکوال : قاري صالح محمد (مدثر)

دلوی او سپېڅلي څښتن په مينه ناک نامه چي دژوندانه دحقيقي تمدن کوريې دلومړی ځل څخه ترپايه پوري مدرسه جوړه کړې ده. دمدرسې نوم زموږ په ټولنه کي هغه لفظ دئ چي زموږ دټولني هر وګړی ورسره اشنا دئ خو وړاندي تر دې چي دمدرسې په ښو پايلو پوه سو غواړم چي دمدرسې لفظ په لږه پيمانه وڅېړم . مدرسه دجوړښت له نګاه يو عربي کلمة ده چي دصرفي قانون له مخي ورته دظرف مکان صيغه يعني ددرس ځای په معنی ده البته هر هغه ځای چي په هغه ځای کي هر اړخيزي زده کړي ترسره کيږي خو دمحتوی له پلوه په ديني زده کړو متغني اوبدا يه وي همدا دمدرسې دمعنا څخه عبارت ده البته ديو عالم په وينا چي دمدرسې ددغه تعريف سره موافق نه دئ ـ مدرسه دهغه ځای څخه عبارت بولي چي دطالب العلم رابطه دخپل څښتن تعالیﷻ سره جوړوي نه داچي مدرسه دڅو عربي کتابو دزده کړي او ورزده کړي ځای دئ مدرسه دانسانيت جوړوني ځای دئ .مدرسه هغه مکرم او معظم ځای دئ چي په هغې کي دانسان فکر داسي جوړيږي چي دخپل ارزښت ناک ژوند هره شېبه او هر ګړی بې ځايه اوعبث تېر نه کړي او دخپل ژوند په اوږدو کي دهر باطل او هر ناپوه انسان لپاره دخير داعي اوبلونکی وګرځي او همدا ډول په مدرسه کي داسلام دسپېڅلي دين بلونکي او دهمدې دين پتنګان روزل کيږي مدرسې هغه ديني او انساني مرکزونه دي چي دهمدې مراکزو څخه دمځکي پرمخ دنړۍ وهرګوټ ته دهغه سپېڅلي دين او هغه سپېڅلي ژوند شغلې او ځلاوي رسيږي چي په هغه دين کي هيڅ ډول نيمګړتيا ، هيڅ ډول عيب او هيڅ ډول خواشيني او خفګان نه ليدل کيږي بلکي هرانسان ددې روښانه او الهي دين په منلو سره دهوسايۍ او خوشالۍ احساس کوي مدرسه دهغه ودي او سوکالۍ پلار دئ چي نه يوازي دتمدن ، عقېدې او انسانيت جوړښت پکښي رامنځته کيږي بلکي په روهي (روحي) لحاظ هم درملنه پکښي کيږي ځکه که تاسو يو نامسلمان کس وپوښتی حتما به پر خپل ژوند باندي بې اعتماده وي او روحاً به ناارامه وي خو کله چي يو مسلمان وپوښتل سي هغه به هر وخت دخپل روهي ارام لپاره درملنه په لاس کي لري ځکه که کوم تکليف ورته پېښ سي د څښتن تعالیﷻ رحمت يې بولي او که خوشالي ورته پېښه سي نعمت يې بولي همدا درملنه په مدرسه کي تر لاسه کېدای سي که دغه موضوع په لنډو ټکو کي را ونغاړو ويلای سو چي مدرسه د جسمي ، روهي ، مدني او مذهبي جوړښت مرکز دئ ، مدرسه يو داسي کار ځای دئ چي په هغه کي دانسان زړه او دماغ تربيه کيږي ، مدرسه داسي ځای دئ چي په هغې کي ټوله جهان او ټول موجودات دانسان د نظر مورد ګرځي .مدرسه دنبوي ژوند له چينې څخه اوبه اخلي او په هغه اوبو سره دنيوي ژوند اوبوي . دا يو روښانه حقيقت دئ چي نبوي چينه هيڅکله نه وچيږي او بشريت هيڅکله دهمدې چينې څخه دبې نيازۍ احساس او فکر کولای نه سي مدرسه په کوم وخت او کوم چا پوري خاصه نه ده چي د وخت په تېرېدو او يا د کوم چا په ورکېدو سره ورکه او يا سقوط وکړي بلکي مدرسه مستقيما په نبوت محمدي پوري اړيکي لري دا يو څرګند حقيقت دئ چي نبوت محمدي به ابدي وي نو کوم کسان چي غواړي يو ښو کاله ژوند وکړي او دژوند هر لحظه يې په بې شمېره ګټو بدله سي حتما ورلره پکار ده چي د مدرسې په ښېګڼو ځان پوه او ګټه ځني واخلي که لږ نور پر دې خبره باندي تم سو او ديولږ څرنګوالي په موخه ووايو چي مدرسه دهغه ځای څخه عبارت نه ده لکه اوس چي نړيوال يې فکر کوي چي مدرسه په بې علمۍ سره تعبيروي ، يا يې په تشدد او يا يې تمدن څخه په ليري والي تعبيروي بلکي مدرسه دعدم تشدد الهام ورکوي ، مدرسه پوهه او تمدن دځان سره په لازمي ډول لري ، مدرسه دټولو علومو دزده کړي مرکز ده نه داچي ځيني عام خلګ يوازي دڅو هغو کتابونو څخه عبارت بولي چي علمي بسنه پرې کېدای نسي ځکه که لږ خپل حقيقي تاريخ مطالعه کړو نو په څرګند ډول ويلای سو چي په اسلامي تاريخ کي لومړۍ مدرسه ددواړو جهانو سپېڅلي سردار حضرت محمد ﷺ تاسيس کړي ده او طالب العلمان يې اصحاب وه دهمدغي مدرسې څخه درستي نړۍ ته علم ورسېدی او په درسته نړۍ کي يو بې سارۍ

انقلاب راغلی ، همدغه مدرسه وه چې واسلامي دنیا ته یې تمدن وروبخښی ، خلګ یې دجهالت دزولنو څخه خلاص کړه ، خلګ یې دسوکالی ، دنیوي او اخروي ګټو په لور بوتلل ، خلګ یې چې د نیوي ژوند ورته دوزخ سوی و دهمدې دوزخ څخه وژغورل ، خلګو ته یې د پت ، عزت ، شرافت او ترقۍ تاج ورپر سر کړئ ، خلګ یې دیوه خدای جل جلاله عبادت ،عدالت او حقیقي دین ته راوبلل ، دظلم او ناروا لارو څخه یې وژغورل لنډه داچې بشریت ته یې ټولي نیکمرغۍ ورپه برخه کړې او همدا مدرسه وه.

# د حضرت صديق اکبر رضي الله عنه فضيلت او سپېڅلتيا

ليکوال: احمد شاه امين



درنو لوستونکو ! دیوه سپېڅلي انسان حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ځیني فضائل په یوڅو کرښو کي درته وړاندي کوو هیله من یو چي تاسو درانه لوستونکي به ګټه ځني واخلئ : لومړی: د صدیق اکبر رضي الله عنه له اسلام را وړلو تر مخه ژوند: حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه د قریشو د بني تمیم ټبر له ستانه مشرانو څخه وو، ده د جاهلیت په وختونو کي د وګړو تر میان خورا ډېر اعتبار درلود، د بني تمیم قبیلې ټولو خلګو به د ده له مشورې پرته هیڅکله کار نه کاوه، دا چي د جاهلیت په وختونو کي به شخړي او جوبلې زیاتي کېدلې؛ نو د ده د ټبر د قصاص او دیت ټولي فیصلې به ده صادرولې او تر صدور وروسته یې هیڅچا تردید نه کاوه.حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه په سپه سالارۍ او د ملک د نظم په راوستلو کي هم خورا ډېر مهارت درلودئ؛ نو ځکه به د ډېرو ځایونو واکمنانو له ده څخه مشورې اخیستې. ده د خوبونو په تعبیر کي هم خاص مهارت درلودئ، لکه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ، چي به فرمایله: ماته ډېر ځله د خدای تعالی له خوا حکم کېږي، چي د ابوبکر رضي الله عنه څخه د خوب تعبیر و پوښتم." الحدیث وایې، چي په هغه زمانه کي په علم الانساب کي تر صدیق اکبر رضي الله عنه بل ښه ماهر نه وو او د هغه زمانې د علم الانساب منلئ او وتلئ استاد وو. ﴿عن عایشه رضي الله عنها ان ابابکر اعلم قریش بأنساب﴾.حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه په ژبه هم ډېر خوږ، فصیح او د خورا مقدسي قریحې څښتن وو، په څېره کې یې له ورایه سپېڅلتوب او تقدس ځلېدئ او هر وخت به په یوه خاص فکر کي غرق وو. څنګه، چي سپېڅلې طبعه یې لرله: نو د جاهلیت په وختنو کې شراب او و بُت ته سجده دواړه پر ځان حرام کړي وه، په ټوله ژوند کي یې نه شراب چیښلي او نه یې بُت ته سجده کړې ده او له دغو دواړو نجسو چیزونو څخه یې زیاته کرکه کېدله. د جهالت په وختونو کې ده د ټوکرانو تجارت کاوه او زیاته سرمایه او شتمني یې درلوده. او د شتمنۍ سره د ښه خلاص لاس خاوند هم وو، ډېر جواد او سخي سړی وو، پر خوارانو او غریبانو یې زړه سوی درلودئ او خپله زیاته دارایې یې د مسکینانو په خرچي لګوله؛ نو ځکه یې ډېر خلګ تابع سوي وه او زیات وګړي یې د احسان او پېرزویني پوروړي ول.د جهالت په وختونو کي که څه هم د هر څه آزادي وه؛ مګر بیا هم صدیق اکبر رضي الله عنه په عفت او صداقت کي د خلګو تر میان خاص نوم ګټلئ وو اوهیڅکله نه درواغ چا ځني اروېدلي دي او نه یې له چا سره چم کړئ وو. دوهم: د صدیق اکبر رضي الله عنه ایمان راوړل: ثقه احادیث پر دې راغلي دي، چي په غټانو نارینه وو کي لومړی سړی، چي د ایمان په سپېڅلي زېور مشرف سوئ دئ؛ هغه حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه دئ. دریم: د صدیق اکبر رضي الله عنه فضیلت په قرآن کریم کي: په عظیم الشان قرآن کي ډېر آیتونه داسي نازل سوي دي، چي شان نزول یې د ابوبکر رضي الله عنه کارنامې ښیې. دا چي ابوبکر رضي الله عنه تر رسول اکرم صلی الله علیه وسلم را وروسته پر ټوله اُمت غوره دئ، هغه هم په مختلفو دلایلو سره ثابتولای سو، چي یو ښه د لیل یې دغه صریح آیت دئ: ﴿إِلاَّ تَنصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُواْ ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا


سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com/

فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لاَ تَحْزَنْ إِنَّ اللّهَ مَعَنَا..التوبه: ۴۰ آیت ﴾ ژباړه: که چیرې تاسې له (رسول اکرم ﷺ) سره مرسته و نه کړئ؛ نو په تحقیق سره الله تعالی مرسته ورسره وکړه، کله چې د مکې کفارو دی له مکې و ایستئ؛ په داسې حال کې، چې دی یو له دوو (مراد یې حضرت رسول اکرم ﷺ او ابوبکر ﷺ دي) څخه وو، چې په غار کې وه؛ کله چې (رسول اکرم ﷺ) و خپل ملګري (ابوبکر ﷺ) ته وویل، چې ته غم مه کوه ځکه په تحقیق سره الله تعالی (په نصرت او ثواب ورکولو کې) زموږ سره مل دئ. د پورته تلاوت سوي آیت پر اساس ټوله علماء پر دې اتفاق دي، چې د صدیق اکبر ﷺ صُحابیت په آیت سره ثابت سوئ دئ؛ نو ځکه که څوک د ده له صحابیت څخه انکار وکړي .و کفر ته نیژدې کیږي.د صدیق اکبر ﷺ د موقف او د کارنامو په مورد کې نور آیتونه هم نازل سوي دي څلرم: د صدیق اکبر ﷺ په فضیلت کې څو نوري خبري: دا چې ابوبکر ﷺ له رسول اکرم ﷺ سره له ډېره وخته ملګرئ او ښه یار وو؛ نو ځکه پر رسول اکرم ﷺ هم زیات ګران وو، د رسول اکرم ﷺ په زمانه کې یې د آعلی وزیر مقام درلودئ او د هغه مبارک په حیات کې یې د مسلمانانو رهبري کړې ده، فتواګانې یې ورکړې دي او حتی رسول اکرم ﷺ د خپل خاص نزاکت پر بناء له حضرت صدیق اکبر ﷺ سره په هر کار کې مشوره کوله؛ لکه د بدر د بندیانو په واقعه کې، چې رسول اکرم ﷺ د ده مشوره و منله. صدیق اکبر ﷺ هڅو (هیڅ وخت) د رسول اکرم ﷺ څخه ځان جلا کړئ نه دئ او د هغه مبارک تل مل پاته سوئ دئ. د بدر په غزا کې د رسول اکرم ﷺ پیره دار، توره تر ملا ولاړ او خپل مبارک سر یې د ده مبارک په مینه په لاس کې اخیستئ وو. د احد پر میدان، چې په مسلمانانو کې ماته راغله بیا هم صدیق اکبر ﷺ وو، چې د سرتېري فدایې په صفت یې د رسول اکرم ﷺ ساتنه کوله او هغه مبارک یې یوازې پرې نه ښوو. کله چې رسول اکرم ﷺ د مرګ پر بستر پروت وو؛ نو تر ټوله امت له ابوبکر ﷺ څخه زیات راضي وو. یوه ورځ رسول اکرم ﷺ د ناروغۍ په ورځو کې مسجد ته تشریف راوړئ، چې دغه ورځ یې طبیعت څه ښه و د خطبې په جریان کې ئې وویل: زه داسې څوک نه پېژنم، چې د احساناتو په

اعتبار دې تر ابوبکر ﷺ افضل وي، که ما بېله الله ﷻ څخه بل څوک خلیل ګرځاوه ؛ نو ما به ابوبکر ﷺ غوره کړئ وای؛ البته د اسلام پر بنسټ مو ورور ګلوي ده ؛ تر هغه وخته، چې خدای تعالی مو پخپل حضور کې سره یو ځای کړي." وایې، چې ابوبکر الصدیق ﷺ د رسول اکرم ﷺ په حیات مبارک کې د اووه لسو (۱۷) لمنځونو امامت کړئ دئ.د حضرت عایشې ﷺ څخه روایت دئ، کله چې صدیق اکبر ﷺ ایمان راوړئ او مسلمان سو، څلوېښت زره دیناره یې درلودل." او دا ټوله یې د رسول اکرم ﷺ او اسلام په مینه کې صدقه او خیرات کړه. د حضرت ابي هریره ﷺ څخه روایت دئ، چې رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي: ما ته د هیچا مال دوني ګټه نه ده رسولې؛ لکه د ابوبکر ﷺ دارایې، چې را رسولې ده؛ وایې چې ابوبکر ﷺ په دې وخت کې په ژړا سو او وې ویل اې د الله ﷻ رسول الله ﷺ زه او مال مې دواړه ستا نه یو؟ (ستا یو) د علي او ابن عباس، ﷺ څخه روایت دئ، چې رسول اکرم ﷺ به د ابوبکر ﷺ په مال کې داسې تصرف کاوه؛ لکه پخپل مال کې.د حضرت عمر ﷺ څخه روایت دئ، چې یوه ورځ رسول اکرم ﷺ موږ ته و فرمایله، چې خپل مالونه د خدای تعالی په لار کې خیرات کړئ. زه و کور ته ولاړم خپل نیم مال مې د رسول اکرم ﷺ و حضور ته راوړی.نورسول اکرم ﷺ پوښتنه وکړه، چې په کور کې دې څوني مال پرېښوئ؟ ما ورته و ویل، چې دغوني مال مې پرېږ ښووئ(لکه راوړئ چې مې دئ). په دې وخت کې ابوبکر ﷺ هم مال راوړ.نو رسول اکرم ﷺ پوښتنه ور څخه وکړه، چې په کور کې دې څه شي پرېښوئ؟ ابوبکر ﷺ وویله، چې خدای تعالی او د هغه رسول ﷺ مې پرېښوول. (حضرت عمر ﷺ په دې وخت کې و ویله)، چې زه په هیڅ وخت کې له ابوبکر ﷺ سره سیالي کولای نه سم. د ابوهریرة ﷺ څخه روایت دئ، چې یوه ورځ رسول اکرم ﷺ پوښتنه وکړه: نن روژه چا نیولې ده؟ ابوبکر ﷺ وویل ما، رسول اکرم ﷺ بیا پوښتنه وکړه، چې نن د جنازې لمونځ چا اداء کړئ دئ؟ ابوبکر ﷺ وویل ما، رسول اکرم ﷺ بیا پوښتنه وکړه، چې نن و مسکین ته خوراکي شی(ډوډی) چا ور کړئ دئ؟ ابوبکر ﷺ وویل ما، رسول

اکرم ﷺ بیا پوښتنه وکړه، چي نن د مریض عیادت چا کړئ دئ؟ ابوبکر ؓ وویل ما؛ پس رسول اکرم ﷺ وویل: چا چي دا ټول کارونه کړي وي، هغه به حتمي جنت ته داخل سي. رواهُ مسلم، عبدالله ابن عمر ؓ روایت کوي، چي رسول اکرم ﷺ و ابوبکر ؓ ته وویله: ته زما سره د ثور په سمڅ(غار) کي ملګرئ وې او زما د حوض کوثر ملګرئ هم یې. رواهُ ترمذي (د ثور غار پر یوه لوړ غره واقع دئ، چي څوک له مکې څخه په نیم ساعت کي هلته رسېدلای سي. حضرت عایشه ؓ وايي، چي رسول اکرم ﷺ و فرمایله: چا ته نه ښايي، چي په دوئ کي ابوبکر ؓ موجود وي او دوئ خپل مقتداء، امام او پېشوا بل څوک وټاکي. رواهُ ترمذي حضرت عمر ؓ وايي: ابوبکر ؓ زموږ سر دار او زموږ مشر دئ او و رسول اکرم ﷺ ته په موږ کي غوره او محبوب دئ. رواهُ ترمذي د جبیر ابن مطعم روایت دئ، چي یوه ورځ یوه ښځه و رسول اکرم ﷺ ته د یوسوال لپاره راغله، او و رسول اکرم ﷺ ته یې و ویل، چي بله پلا بیا و چا ته راسم؟ رسول اکرم ﷺ ورته وویل: ما ته! هغې و ویل، چي که ته نه وې(وفات سوئ وې)، رسول اکرم ﷺ و فرمایل: بیا نو وابوبکر ؓ ته راسه.( متفق علیه) حضرت ابوبکر ؓ لومړی خلیفه او د نهم هجري کال د حج لومړی آمر دئ، د قرآن حافظ وو او ټوله قرآن کریم د ده په وخت کي په لیکلي ډول را ټول سوئ دئ .ابوبکر ؓ د رسول اکرم ﷺ د ټولو غزاګانو ملګرئ وو او لومړی سړی دئ، چي په مکه معظمه کي یې ځانته مسجد جوړ کړئ. پنځم: د خلافت په دوره کي: کله چي رسول اکرم ﷺ وفات سو؛ د خلیفه د ټاکلو پر سر د را ولاړ سوي لوئ اختلاف ختمونکئ هم دی دئ، د رسول اکرم ﷺ تر ښخولو وروسته یې لومړی پلا د مرتدینو او د زکات له منکرینو سره جهاد اعلان کړئ، که څه هم عمر ؓ او نورو له ده سره په دې مسئله کي په پیل کي اختلاف وکړئ ؛ مګر ابوبکر ؓ پخپل خاص اجتهاد له شدت او زور څخه کار واخیست او ډېره ښه نتیجه یې هم ورکړه. هره خوا یې د مرتدینو او نورو نوو ګمراه سوو قبیلو سره د جهاد کولو ډاګزه اعلان و کړئ د مسیلمة الکذاب او نورو بې پتو مرتدینو او د نبوت مدعینو سره د جنګ کولو لپاره ئي لښکري واستول، د تبلیغ زیاتي ټولۍ یې جوړي کړې او د عامه پوهاوي لپاره یې و مختلفو ځایو ته واستولې، او د خپلو ښو افکارو او تاکتیکونو پر اساس یې په ډېره لږه موده کي ټوله اسلامي اورشو له فساد او فتنو څخه پاکه کړه، حضرت صدیق اکبر ؓ د هغه لیاقت، مهارت، ځراکت او علمیت پر بناء، چي الهي ورکړه وه؛ د خپل نیژدې دوست(حضرت رسول اکرم ﷺ) ور سپارل سوئ امانت په ښه توګه تر خپله منزله ورساوه او په ټوله دنیا کي داسي څوک و نه موندل سو، چي د ابوبکر ؓ له خلافت څخه دي ناراضه وو. د دوو کالو او څو میاشتو له بریالي خلافت کولو وروسته د دروشپېتو کالو په عمر وفات سو او خپل ځای ناستئ یې حضرت عمر ؓ وټاکئ، چي په دې کار سره یې د خپل ولایت اظهار بیا وکړئ. د حضرت صدیق اکبر ؓ خلافت یوه خاصه ځانګړنه لرله. قانون یې قرآن، حدیث او د غټو او نیژدې اصحابو ؓ مشوري وې. د دوو کلونو په جریان کي یې د داسي حکومت تاداو کښېښووئ، چي تر ابده به د ټولي نړۍ رهنمايي کوي ابوبکر ؓ د ټوکرانو کاروبار کاوه او په هغه ئې د خپل ځان او اولاد لپاره کفایت کاوه د خلافت په موده کې یې د مسلمانانو د خدمت له وجهي خپل کاروبار نسوای کولای نو څکه یې ډېر لږ مقدار خرڅ د ځان او عیال لپاره د بیت المال څخه اخیستی او د مریضۍ په وخت کې وصیت وکړ چي هغه مرئی چې د اولاد د راګرځوني او پالني لپاره او هم هغه اوښ چې د باغ د اوبوني لپاره یې د بیت الما ل څخه اخیستي بیرته بیت المال ته حواله کړي .

**څوک چي قرآنکریم وواېي الله ﷻ لس نیکۍ ور کوي** (عن ابن مسعود ؓ قال رسول الله ﷺ من قرءَ حرفا من کتاب الله فله به حسنة والحسنة بعشر امثالها لا اقول آلمَ حرف ولکن الف حرف ولام )حرف ومیم حرف رواه الترمذي (۲۰) **ژباړه: ابن مسعود ؓ د رسول الله ﷺ څخه روایت کړی دئ، چي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: که چا یو حرف د قرآنکریم وو ایه الله ﷻ به په بدله کي یوه نیکي ور کړي اویوه نیکې په ثواب کي د لسو نېکیو سره برابره ده زه دا نه وایم چي (آلمَ) یو حرف دی بلکی الف یوحرف دئ، لام بل حرف دئ، میم بل حرف (یعنی پر آلمَ باندی دیرش نېکۍ دی).**




# اسلام او ژورنالیزم

ليکوال :مولوي عبدالهادي حماد

څرګنده ده چي دژوندانه د ودي( ترقۍ )يوه برخه خبري کول جوړوي ، خبري کول هغه وسيله ده چي دژوندانه زياتي برخي اړتياوي پرې پوره کيږي ، خبري کول هغه وسيله ده چي داخروي ژوند د سپېڅلو کړنو تله په زياته پيمانه پرې درنيږي لکه څرنګه چي انسان خوراک کولو ، څښاک کولو ته اړتيا لري په همدې ډول انسان اړتيالري څو خلګ د زړه په موخو پوه کړي داچي د انسان په خټه کي فطرتاً د پلټني ما ده نغښتې ده نو ځکه دځان دپوهاوي په وجه غواړي چي دنورو څخه ځان پوه کړي دغه وسيلې ته چي زده کړه او ورزده کړه يې په مټ ترسره کيږي دژوناليزم دقانون په اصطلاح کي ورته ابلاغ وايې او تعريف يې په لاندنۍ بڼه کوي: ابلاغ داسي عمل دئ چي پکښي دالفاظو او يا له الفاظو پرته د جسمي اشارو ، کنايو،حرکاتو او نورو په مرسته يو بل ته نظرونه ، معلومات او پيغامونه لېږدول کيږي . داچي انسانان تر ډېره بريده د ابلاغ ياژوناليزم په اړتيا نه پوهېده ډېر وخت وروسته يې دهمدې ژوناليزم علم اړتيا تر ګوتو کړه او د يوه فن په بڼه يې په ټولنه کي راڅرګند کړ، خو څښتن تعالی جل جلاله ډېر پخوا لا آنحضرت ﷺ ته دهمدې کار امر کړئ دئ او فرمايې :او دوئ لره د دوئ د ځانونو په هکله ښه فهمونکې وينا (اغيزمنه او اثر لرونکې )وکړه .

وَقُل لَّهُمْ فِي أَنفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيغًا ﴿٦٣﴾

او ووايه : ( اې پيغمبره ﷺ!) ددوی دنفسونو په حق کي بليغ قول.( اغېزمن او تاثير لرونکی) په پورتني آيت کي الله جل جلاله رسول الله ﷺ ته دابلاغ امر وکړئ. ابلاغ دې ته وايې چي په داسي الفاظو وينا وکړل سي چي پر اورېدونکي اثر وکړي او ويونکی خپلي موخي ته ورسوي البته دا کار هغه وخت کېدای سي چي ويونکی لاندي ټکو ته متوجه سي : لومړی :پرکومه موضوع چي ويونکی خبري کوي بايد پر هغه موضوع برلاسی وي کوم کسان چي د موضوع اړونده پوره پوهاوی نه لري هغه هيڅکله په دې نسي توانېدلای چي په خلګو کي اغيزمن سي اوهغه څه چي غواړي په خلګو يې ومني .

دوهم : په کومه ژبه چي وينا کوي دهغې ژبي اصطلاحات او الفاظ به استعمالوي د پرديو اصطلاحاتو او الفاظو څخه به ځان ژغوري کوم څوک چي په يوه سيمه کي اوسيږي د بلي سيمي دهمدغي ژبي اصطلاحات يا الفاظ کاروي اورېدنکي مطلوب نه سي تر ګوتو کولای د بلي ژبي اصطلاحي الفاظ کارول همدا حکم لري همدا وجه ده چي ځيني عام خلګ دځيني علماؤ کرامو څخه د بيان پر مهال سرټکوي او وايې چي موږ د دغه عالم په بيان نه پوهيږو اصلاً خبره خو داوي چي هغه عالم ته عربي اصطلاحات او الفاظ ډېر ساده وي نو د افادې پر مهال همدغه الفاظ په دې فکر استعمالوي چي اورېدونکو ته به هم په همدغه پيمانه ساده وي خو له بده مرغه داستفادې پر مهال ستونزې رامنځته سي. دريم : هر لفظ چي د خولې څخه راباسي تر فکر کولو وروسته به يې وايې ، په همدې لحاظ په خبرو کي چابکي کول يا د فکر کولو پرته خبري کول داغېز له نګاه څخه بدي پايلي لري ځکه هر انسان چي پر کومه موضوع خبري کوي حتماً دهغې موضوع اړونده د خپلو حواسو څخه په﴿ د حس په خزانه ﴾کي ډېر معلومات لري او دانسان ذهن هم الله جل جلاله دکمپيوټرايزډ سسټم په څېر جوړ کړی دئ چي د څېړني وروسته معلومات وتلفظ کولو ته سپاري که يو انسان په چابکۍ سره هرڅه چي پر خوله ورسي هغه ووايې حتمًا به يې ډېري نيمګړتيا وي کړي وي. څلورم: دخبرو کولو پرمهال بايد وقفونه اوسکتې په نظر کي ونيول سي يعني کله چي موضوع بشپړه سي بايد وقف وسي او که جمله بشپړه سي بايد سکته وسي مثلا که يوڅوک غواړي چي څو حديثونه بيان کړي په لاندي ډول يې بايد ووايې: رسول الله ﷺ فرمايې : ﴿سکته﴾ ﴿المسلم اخو المسلم ﴾ ﴿سکته﴾ ژباړه: مسلمان دمسلمان ورور دئ .﴿ وقف﴾په بل ځای کي رسول الله ﷺ فرمايې ﴿سکته﴾ ...... همدا وجه ده چي الله جل جلاله رسول الله ﷺ ته فرمايې : ﴿وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا﴾ ژباړه :



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com/

قرآنکریم په ترتیل ووایه . (ترڅو ښه اغېزمن تمام سي او د خلګو د هدایت سبب وګرځي) په پورتني آیت کي الله جل جلاله د ښه اغېزمنتیا لپاره ترتیل ښودلی دئ نو د همدې لارښووني څخه باید ټول مسلمانان ګټه واخلي چي د خپل پیغام په رسولو کي د ترتیل څخه استفاده وکړي البته ترتیل ځینو مفسرینو د تلوار ضد بللی دئ ځینو بیا په دې معنی کړی دئ چي د الفاظو حق په پوره ډول ادا سي نو که یوڅوک غواړي چي وینا یې اغېزمنه تمامه سي ، خلګ ښه ورته متوجه سي او ده ته یو ښه ویونکی او ابلاغ کونکی وویل سي نو په کومه ژبه چي بیان کوي د هغې ژبي د الفاظو پوره حقوق دي ادا کړي. قرآن نه یوازي پر یوې خاصي او ځانګړي موضوع باندي لارښوونه کوي بلکي دژوندانه دټولو ضرورتونو لپاره هدایت او لارښود دئ . په هرصورت لکه مخکي چي مو وویل دخبرو په نیمګړتیاوو کي یوه نیمګړتیا داده چي خبري دفکر پرته ترسره کیږي وهمدې خبري ته آنحضرت ﷺ اشاره کړېده اوفرمایې: ﴿ ان الله یبغض البلیغ من الرجال ﴾ ژباړه: الله جل جلاله دنارینه و څخه ابلاغ کونکی نه خوښوي . البته ددغه ابلاغ څخه هغه ابلاغ مقصود نه دئ کوم چي مو دژورنالیزم له آنده تعریف کړی دئ، اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه په خپلو خطباتو کي لارښوونه کړې ده چي ددغه ابلاغ څخه مقصود بې فکره ، بې ځایه اوپه چابکۍ سره خبري کول دي نو که څوک دابلاغ د میتود څخه کار واخلي . یعني د خپلو معلوماتو په ساحه کي د اورېدونکو په ژبه په تدبیر او فکر په ورو ورو وړ غیږي نه یوازي دا چي وینا به یې د ای ،او،اه .او بدخوندیو څخه خلاصه وي . بلکي وینا به یې ښکلا، سلاست ،اغېزه ،او اثر پر اورېدونکو هم ولري.



## نبوی ﷺ مسجد

ژباړه او ترتیب: نوید احمد

د مکې معظمې د شمال په ۴۴۰ کیلومترۍ (۲۷۵ میله) په شاوخوا کي د اسلام دوهم مقدس ځای موقعیت لري چي په دې ښار کي د اخري اوعالمي نبي محمد رسول الله ﷺ ټاټوبی او هم د ده مبارک ﷺ مقبره ده. دا هم هغه ځای دی چي رسول الله ﷺ او د ده مبارک ملګري ابوبکر رضي الله عنه د کفارو د ظلم او تجاوز څخه د مکې شریفې څخه همدلته تشریف راوړی. د هجرت دغه تاریخ د اسلامي کلیزې پیلامه جوړوي.څرنګه چي مدینه منوره د اسلام په تاریخ کي د اسلامي حکومت لومړنی مرکز و اوهم د اسلام دوهم سپېڅلی ځای دئ (اول یې کعبه شریفه او دریم بیت المقدس دئ) نو ځکه د سعودي عربستان حکومت هر کال د میلونونو مسلمانانو د راتګ په خاطر د همدې مبارک ښار د پراختیا ډیري هڅي کړي. چي اوسنۍ پراختیا د نبوي مسجد په تاریخ کي ساری نه لري. د دغه مبارک مسجد محوطه تر لومړني تعمیر سل چنده پراخه سوېده. ځکه تر مخکنیو پراختیاوو وروسته د سعودي حکومت لخوا ۸۲۰۰۰ متره مربع نوره ساحه اضافه سوه. د نبوي مسجد ﷺ بام ۶۷۰۰۰ متره مربع پراخ والی لري چي ۹۰،۰۰۰ لمونځ کوونکي ځای وي. د نبوي مسجد ﷺ په پراختیا کي د مسجد د باندي غولۍ هم شامل دئ چي مځکه یې د مرمرو په کاشي خښتو او ګرانیټو (یو قسم تعمیراتي ډبره ده) پوښلی دئ. د مسجد د شاوخوا ټول پراخ والی ۲۳۵۰۰۰ متره مربع دئ چي د نبوي مسجد مجموعي مساحت

نژدې ۳۷۳۰۰۰ متره مربع ته رسیږي او عموماً تر نیم میلیون زیات لمونځ کوونکي ځایوي، خو د حج په وخت کې ۱۰۰۰،۰۰۰ یو میلیون (لس لکه) لمونځ کوونکي هم ځایولای سي. د مسجد بام چې د مرمرو په کاشي خښتو پوښلی دئ ۲۷ خوځنده ګنبدې لري چې دغه ګنبتې د ضرورت په وخت کې د برېښنا د جریان په وسیله د چت څخه لیرې کیږي تازه هوا او رڼا مسجد ته داخلوي. د مسجد دباندې فرش د یو ډول لوی سایوانونو په واسطه سایه جوړوي. ټولې ۸۱ دروازې، ۲۱۷۰ ستونونه او ۵ دانې خوځنده برېښنایې زینې لري چې بام ته یې ختلې دي. او ۱۰ دانې جګې مناري لري هره مناره یې تقریباً ۱۰۵ متره لوړه ده. او د مسجد شریف اوسنی مشر امام شیخ علي بن عبدالرحمن الحذیفي صاحب دئ. خو د یادوني وړ ده چې په ټوله نبوي مسجد کې تر ټولو زړه راښکونکی ځای د سرور کاینات ﷺ مبارکه زرغونه ګنبته ده چې په لیدو سره یې انسان حواس له لاسه ورکوي. او هم هغه مبارکه هدیره د یادوني وړ ده چې په زیات شمیر مبارک صحابه کرام رضي الله عنهم هم پکښي دفن دي.



د رسول الله ﷺ مبارکه روضه او هم د جنة البقیع هدیره

رابه سو د مدینې منورې ښارته، ددې مبارک ښار پخوانی نوم یثرب و چې د رسول الله ﷺ تر هجرت وروسته په مدینه بدل سو. په ۲۰۰٦ کال کې یې نفوس تر ۱۳۰۰،۰۰۰ زیات ؤ. په مدینه منوره کې ډیر اسلامي او عصري پوهنتونونه سته چې د هغو د جملې څخه جامعه طیبه د عصري علومو او جامعه اسلامیه مدینه د اسلامي علومو مراکز دي، چې د نړۍ د مختلفو ممالکو څخه د دیني علم شایقین په وړیا ډول دیني درس پکښې وایې. او همدا ډول ډېر لوی لوی کتابتونونه هم لرئ چې مشهور یې د مدینې منورې ولسي کتابتون، د نبوي مسجد کتابتون او محمودیه کتابتونونه دي.په مدینه منوره کې تر نبوي مسجد را وروسته نور مهم او مقدس ځایونه هم شتون لري چې د هغو د جملې څخه د هغو غزاګانو میدانونه دي چې ،په بدر، أحد او خندق کې رامنځته سوي دي، مسجد قبلتین او هم د اسلام لومړنی مسجد (قباء) د یادوني وړ دئ. .مسجد قباء د اسلام په تاریخ کې لومړنی مسجد دی، چې د مدینې منورې په جنوب غرب ساحه کې قرار لري. کله چې نبي کریم ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړ نو مسلمانان یې و مخې ته راغلل همدلته ئې د قباء مسجد جوړ کړ چې په جوړولو کې یې نبي کریم ﷺ خپله هم برخه واخیسته. : په اوسني عصر کې د اسلامي خدماتو د جملې څخه هغه ستره قرآني کارخانه هم یادو چې د قرآني کریم چاپولو ته ځانګړې سوېده .

## دملک فهد د قران مجید د چاپ مطبعه



دغه ستره ودانۍ د کلام الله د چاپولو او قرائت ثبتولو لپاره اختصاص سوې ده، چې په ۱۹۸۴ م کال کې د ملک فهد لخوا افتتاح کړل سوه. د قران مجید دغه ستره مطبعه د حرمینو شریفینو د خادم لخوا د ټولې نړۍ مسلمانانو ته ډالۍ ده، او دا د نړۍ د سترو چاپ خانو څخه ګڼل کیږي. دا ودانۍ د ډېرو کارځایونو، سترو تجهیزاتو او ډول ډول وسایلو له کبله د یو ښار شکل لري، چې پر ۲۵۰،۰۰۰ متره مربع ځمکه د یو بیلون سعودي ریال په لګښت چې تقریبا ۲۷۰ میلونه ډالره کیږي تاسیس سوېده. پدې ودانۍ کې د قران کریم پر چاپ سربېره چې د مصحف المدینة المنورة په نامه شهرت لري، د قران کریم په مختلفو ژبو ترجمې، تفاسیر، علوم، د احادیثو کتابونه او سیرت نبي (ﷺ) په چاپولو کې هم مهم رول لوبوي. او همدا ډول دا ودانۍ د قران کریم ډغیږ قرائتونه د اسلامي نړۍ د مشهورو قاریانو په اوازو کې ثبتوي.

# د قرآنکریم هغه آیاتونه چې یو ساینس پوه یې حیران او مسلمان کړ

ژباړه : ننګیالی (همت)

مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ﴿١٩﴾ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ژباړه: الله ﷻ دوه سمندرونه خوشي کړي(بهولي دي) چې سره یو ځای ښکاري، خو د دواړو تر منځ پرده حائل ده، چې له دې امله د یو بل خواته تېرى نه سي ځني کولاى په دغه آیت کي دوه مهم ټکي بیان سوي دي: ۱ د تنګ آبنا په ذریعه یعني د اوبو د هغه ځای په واسطه چي دوې وچي سره بېلوي د سمندرونو سره یو ځای کېدل یو عادي او معمولي حالت دی. ۲ دا حقیقت چي د دوو سمندرونو په منځ کي د یوه ځانګړي خنډله امله هغه یو له بله په بشپړه توګه نه سره یو ځای کیږي. راځئ په دې لړ کي تر ټولو د مخه د ساینسي ځانګړنو څېړنه وکړو فرانسوي ساینس پوه کوسټو(cousteu) چي د سمندر دننه په اوبو کي په څېړنه بوخت او مشهور دئ، دا پته یې ولګول چي روم سمندرګی ) (mediterranean او اقیانوس سمندرګی (atlantic) د کیماوي او ژوند پوهنیز (بیالوژیکي) پلوه یوله بله توپیره لري. هغه د دې حقیقت د څرګندولو لپاره د جبل طارق آبنا ته نژدې تر سمندر لاندي څېړني وکړي، ویې ویل چي د جبل طارق له جنوبي (مراکش) او شمالي(هسپانیې) خواوو څخه بیخي په داسي حال کي چي هیڅ توقع یې نه کیږي د خوږو او تازه اوبو چینې راوزي. دغه چینې چي په سمندرکي دننه دي، دومره ستري دي چي یوه د بلي لوري ته د (۴۵) ډګریو په زاویه تیزي سره لوړي پورته کیږي او د یوه ډم په شان ړمونځي د غاښو ښه غوره کوي چي له دې امله د روم او اقیانوس سمندرګي دننه یو له بله نه سره ګډیږي. تر دې څېړني او جوتوني وروسته چي کوسټو ته پورتني دوه آیتونه وښوول سول نو حیران ورته پاته سو. د قرآنکریم د عظمت او سترتوب تعریف یې وکړ او مسلمان سو. په دې حیرانونکي مبارک آیت کي د جبل طارق د څنډو په هکله په بېخي واضح او څرګنده توګه بیان سوی دی. خو راځئ یو ځل بیا د دغه آیت د الرحمان د مبارکي سورې موضوع د لوی څښتن ﷻ د سترو او ښکلو نعمتونو او تخلیق په هکله د هغه نه محدودېدونکي پوهه او حکمت دی. له دغو آیتونو څخه نوري معناګاني هم راوزي او هغه دا چي په سمندر کي د ژوندیو مخلوقاتو شمېر د مځکي د مخلوقاتو تر شمېر زیات دئ. په سمندر کي بې شمیره اجسام موجودات او زښت زیات ډول ډول واښه ، شینلي او داسي نور سته، چي له هغو څخه د لوی څښتن ﷻ قدرت او عظمت ډېر ښه څرګندیږي. دا هم څرګنده ده چي ډول ډول ځناور او ښاروي په ډول ، ډول چاپېریالونو کي پایښت مومي. نو دغه سبب دی چي د لوی څښتن ﷻ قدرت سمندرونه ګډوډ کېدو ته نه دي پرې ایښي. ځکه هر سمندري ژوی په خپل بیل سمندري چاپېریال کي ژوند او وده کولای سي. دغه خبري زموږ پام د الرحمان د سورې (۲۲) لمبر آیت ته، په تېره د سمندرونو د جوړښت او د سمندري نباتاتو او کبانو د ویش لوري ته کوم چي د تودوخي په درجه کي د بدلونو له امله بدلون مومي، هم وراړوي،(۲۲) لمبر آیت دي: (يَخْرُجُ مِنْهُمَا ٱللُّؤْلُؤُ وَٱلْمَرْجَانُ ﴿٢٢﴾ یعني: له دې سمندرونو څخه مرغلري او مرجان راوزي.

نو دغه آیت په دواړو سمندرونو کي د مرغلرو او د ښکلو سمندري ډبرو موجودیت هم اعلانوي. نو لکه څنګه چي لوی څښتن ﷻ څوارلس سوه کاله پخوا اعلان کړی دی همدا اوس جوته سوې او څرګنده سوې ده چي په سمندرونو کي ډېر غټ غټ ښونه او زښت زیات ډولونه کبان شته. په سمندرونو کي داسي ګلان سته چي ساری یې پر ځمکه نه موندل کیږي، د سمندر په تل کي(lepas fasicaris یو ډول غاټول غوندي ګلان سته چي تر مځکنیو غاټولو زیات ښکلي دي. دغه راز د سمندر په ژورو کي ډېر ښکلي حشرات هم سته. په سمندرکي د acan thurus (triostegus په نامه یو ډول داسي ماهیان سته چي پر سره جسم باندي یې د ګلانو ګردۍ نخښي سته چي یو ډول ښکلې رڼا ځني خپریږي او شاوخوا رڼا کوي. د دغه ډول رڼا خپروونکو بې شمېرو کبانو ډولونه د پړشو ته رسیږي دغه مخلوقات د لوی څښتن ﷻ د ښکلي او عظیم صنعت ځانګړي بېلګي دي او د سمندرونو د نه ګډېدو لاملونه څرګندوي. لکه چي له آیت مبارک څخه ښکاري دغسي ساینسي څېړونو هم څرګنده کړې ده چي د جبل طارق دآبنا په دواړو لورو کي دومره بې شمېره سمندري ډبري او په تل کي یې داسي ښکلي او ډول ، ډول مخلوقات او حشرات موجود دي چي په اوسني پرمختللي دور کي هم د هغو شمېر ټاکل ناشونی دی. د دې سمندري مخلوقاتو له بیان څخه زموږ موخه دا ده چي وښیو قرآنکریم څورالس سوه کاله وړاندي د سمندرو په ژورو کي، په هغو ځایونو کي چي بېخي په سترګو نه لیدل کیږي د دغو ښکلو حشراتو او مناظرو وجود ښوولی او بیان کړئ دئ. د الرحمان د سورې په د غو آیتونو کي زموږ د حقیقي معبود د دغسي بې شمېرو او ښکلو ښودلو سوو مخلوقاتو په هکله اوس چي د هغو له ښوولو څخه څوارلس پېړۍ تېرېږي او څرګندوني زیاتیږي له هغو څخه د دغو مبارکو آیتونو راز او حقانیت څرګندیږي.



سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com/




# انسان د څه لپاره پیدا دی؟

لیکوال : حافظ مولوي احمد سعید

که یو عاقل انسان فکر وکړي نو خامخا و دې حقیقت ته رسیږي چي الله ﷻ چي په دنیا کي څه پیدا کړي او یا یې په آخرت کي کوم نظام پیدا کړی دا ټوله د انسان لپاره پیداسوي دي مثلاً که مځکه ده که آسمانونه دي که لمر او سپوږمۍ ده که شپه او ورځ ده که غرونه او دریابونه دي که درختي او باغونه دي او یا څاروی دي دا ټول الله ﷻ د انسان لپاره پیدا کړي دي لکه په قرآن کریم کي چي په مختلفو آیتونو کي الله ﷻ اشاره ورته کړې الله ﷻ د شپې، ورځي، لمر، سپوږمۍ، او ستورو په هکله فرمایي: وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيۡلَ وَٱلنَّهَارَ وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَۖ وَٱلنُّجُومُ مُسَخَّرَٰتُۢ بِأَمۡرِهِۦٓ ﴿١٢﴾ ( النحل ۱۲) ژباړه: او ستاسي د ګټي لپاره ئې شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ مسخره کړي دي او ستوري د الله ﷻ په حکم مسخره ګرځول سوي دي. د دریابو په هکله فرمایي: وَهُوَ ٱلَّذِي سَخَّرَ ٱلۡبَحۡرَ لِتَأۡكُلُواْ مِنۡهُ لَحۡمٗا طَرِيّٗا وَتَسۡتَخۡرِجُواْ مِنۡهُ حِلۡيَةٗ تَلۡبَسُونَهَا ﴿١٤﴾ ( النحل ۱۴) ژباړه: او الله ﷻ هغه ذات دی چي دریاب ئې مسخره کړی دی څو تاسو د هغه څخه تازه غوښه وخوری او هم د هغه څخه ګېڼې د استعمالولو لپاره را وباسی. د څارویو په هکله فرمایي: وَٱلۡأَنۡعَٰمَ خَلَقَهَاۖ لَكُمۡ فِيهَا دِفۡءٞ وَمَنَٰفِعُ وَمِنۡهَا تَأۡكُلُونَ ﴿٥﴾ ( النحل الایة ۵) ژباړه: او الله ﷻ څاروي پیدا کړل چي په هغه کي ستاسو لپاره ګرمي جامې هم دي او نوري فایدې هم دي او ځني له هغوی څخه تاسو خوری. د باران په هکله الله ﷻ فرمایي: هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗۖ لَّكُم مِّنۡهُ شَرَابٞ وَمِنۡهُ شَجَرٞ فِيهِ تُسِيمُونَ ﴿١٠﴾ ( النحل ۱۰) ژباړه: او الله هغه ذات دی چي اسمانونو څخه ستاسو لپاره اوبه را اوُ روي له د غو اوبو څخه تاسو څښل کوئ او د همدې اوبو څخه درختي شنې کیږي چي په دې کي تاسو څاروي څروی. او په بل ځای کي الله ﷻ فرمایي: چي تاسو ګورئ ټول هغه شیان چي په آسمانونو کي دي او په مځکه کي دي ماستاسو د ګټي لپاره مسخره کړي دي: أَلَمۡ تَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَأَسۡبَغَ عَلَيۡكُمۡ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةٗ وَبَاطِنَةٗۗ ﴿٢٠﴾ ( لقمان ۲۰) ژباړه: او تاسو دا نه وینی چي الله ﷻ د آسمانونو او مځکي ټول شیان ستاسو تابع ګرځولي او تاسو ته یې ښکاره او پټ نعمتونه پوره، پوره درکړي دي د دې حقیقت ته څخه وروسته چي الله ﷻ هر څه د انسان لپاره پیدا کړي پوښتنه دا ده چي الله ﷻ انسان د څه لپاره پیدا کړی دی د قرآني آیتونو او نبوي آحادیثو په رڼا کي دا حقیقت معلومیږي چي د انسان څخه هدف یوازي د واحد الله ﷻ اطاعت او بنده ګي ده او بس لکه چي فرمایي وَمَا خَلَقۡتُ ٱلۡجِنَّ وَٱلۡإِنسَ إِلَّا لِيَعۡبُدُونِ ﴿٥٦﴾ ( الذاریات ۵٦) ژباړه: او ما پېرانان او انسانان بېله دې څخه چي زما عبادت وکړي د بل څه لپاره نه دي پیدا کړي .نودا خبره راته معلومیږي چي د انسانانو او پېرانانو پیدایښت یوازي د الهي عبادت منظور دی دا معنی چي انسان باید یو الله ﷻ ته تسلیم سي او د عبودیت سر ورته کښته کړي او د ژوندانه ټول کارونه که عبادات وي که معاملات(راکړه ورکړه) که کار او کسب وي، که تجارت وي یوازي او یوازي یې د الله ﷻ او دهغه د رسول دلاربښووني سره سم وکړئ او خپل ځان ته دا حق ورنکړی چي په خپل فکر او اټکل کوم کار ته روا او ناروا و وایي او یا د ثواب او عذاب حکم پر وکړي بلکي د خیر او شر روا او ناروا حلال او حرام معیار یوازي الهي فرمان وبولئ د دې لپاره چي انسان دغه هدف او معیار تر لاسه کړي الله ﷻ د پیغمبرانو سلسله جاري کړېده او د نبي کریم ﷺ رسالت یې تر هغه چي انسان د مځکي پر سر ژوند کوي جاري ساتلې ده ځکه د محمد ﷺ دین هغه اخري او ورستی دین دی چي هیڅکله په ذات کي د تحریف سره ندی مخامخ سوی چي انسان بیا د کوم بل دین لپاره ضرورت احساس کړی نو په همدې اساس د الله ﷻ بنده ګي د انسان لپاره هغه مهمه وظیفه ده چي په ټول ژوند کي یوه لحظه هم باید پاته نسي ځکه چي الله ﷻ هغه کسان چي د الهي عبادت څخه ځنګ کوي د حیواناتو سره مشابه کړیدي او د هغو ژوند یې حیواني ژوند بللی دی ځکه انساني ژوند بېله الهي بنده ګۍ څخه امکان نلري او انسان نسي کولای بېله الهي بنده ګی څخه دانسانیت وړ ژوند وکړي.

**ستاسو د هغو پوښتنو جوابونه په لیکلي بڼه کوم ،چي دټلیفون پرکرښه مو کړي او دتعلیم الاسلام ولسي راډیو له لاري ستاسو داوازونو سره نشر ته سپارل سوي دي**

ستاسو پوښتنو ته ځواب ویونکی: شیخ الحدیث مولوي محمد عمر خطابي

**۱۱سوال: د لمانځه ومخ ته تېرېدل څه حکم لري؟**

**د سوال کوونکي نوم: عبد الله**

**جواب:** د لمانځه مخ ته تېرېدل ډېره گناه لري ځکه أَبُو جُهَيْمٍ رضي الله عنه وايي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيْ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِينَ خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ قَالَ أَبُو النَّضْرِ لَا أَدْرِي أَقَالَ أَرْبَعِينَ يَوْمًا أَوْ شَهْرًا أَوْ سَنَةً( متفق عليه ) ژباړه : د لمونځ کوونکي مخ ته تېرېدونکي ته که معلومه وای چي پر ده باندي څوني گناه راځي نو که څلوېښت ورځي او یا وایي څلوېښت میاشتي او یا وایي څلوېښت کلونه ودرېږي دا به د لمونځ کونکي مخ ته تر تېرېدلو ورته خیر او ښه وي .په ورځو میاشتو او کلونو کي ابونضر چي ددې حدیث راوي دئ شک لري خو په بل حدیث کي کلونه ذکر سوي دي ددې نبوي احادیثو څخه معلومه سوه چي د لمونځ کوونکي مخ ته تېرېدل ډېره لویه گناه ده ، څلوېښت کاله انتظار ایستل لږ مده نه ده خو بیا هم دوني اوږده مده انتظار ایستل لا هم رسول الله صلى الله عليه وسلم د لمانځه مخته تر تېرېدلو غوره بللي دي نو هر مسلمان ته په کار ده، چي تلوار و نه کړي بلکی لږ وخت انتظار وباسي څو لمونځ کونکۍ د لمانځه څخه فارغه سي . البته د لمانځه مخ ته تېرېدل په هغه صورت کي گناه لري چي د لمونځ کوونکي مخ ته ستره نه وي ، ستره و هغه شي ته وایي چي لږ تر لږه د برچې په اندازه یعني د گوتي په اندازه پنډ او یو لیڅی قدر جگواله ولري چي دمعاصر وخت ۴۵ cmسره برابرېږي ، که د لمونځ کوونکي مخ ته سُتره وي نو د سترې و هغي خوا ته تېرېدل پروا نه کوي . د جماعت په لمانځه کي که د امام مخ ته ستره ودرول سي هغه د مقتدیانو د پاره هم کفایت کوي د امام د سترې هغي خوا ته که څوک تېرېږي پروا نه کوي،ځکه أَبُو جُحَيْفَةَ وايي : ثُمَّ رَأَيْتُ بِلَالًا أَخَذَ عَنَزَةً فَرَكَزَهَا وَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مُشَمِّرًا صَلَّى إِلَى الْعَنَزَةِ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ وَرَأَيْتُ النَّاسَ وَالدَّوَابَّ يَمُرُّونَ مِنْ بَيْنِ يَدَيْ الْعَنَزَةِ ( متفق عليه )أَبو جُحَيْفَة وايي : وروسته مي بلال ولیدی برچه یي را اخیستې وه پر مځکه یې جگه کړه او رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلي خیمې څخه په سور لیکي نوي جوړه جامو کي راووتی لونگ یې پونډیو ته را پورته کړی ؤ د برچې وخوا ته یې دوه رکعته سفریانه لمونځ خلگو ته ورکړی او ما خلگ او حیوانان لیدل چي د برچې و هغه خوا تېرېدل .که لمونځ کونکی په دښت یا یو لوی مسجد کي لمونځ اداء کاوه او مخ ته یې ستره نه وه نو بیا په څوني فاصله کي یې څوک مخ ته تېرېدلای سي ؟ په دې اړوند امام سرخسي رحمه الله علیه په مبسوط کي څو قولونه را نقل کړیدي : وَأَصَحُّ مَا قِيلَ فِيهِ أَنَّ الْمُصَلِّي لَوْ صَلَّى بِخُشُوعٍ فَإِلَى الْمَوْضِعِ الَّذِي يَقَعُ بَصَرُهُ عَلَى الْمَارِّ يُكْرَهُ الْمُرُورُ بَيْنَ يَدَيْهِ ، وَفِيمَا وَرَاءَ ذَلِكَ لَا يُكْرَهُ ، وایي تر ټولو صحیح وینا دا ده چي د لمونځ کونکي نظر پر و نه لگیږي خو دا په هغه صورت کي چي لمونځ کونکی لمونځ په خشوع اداء کوي یعني د سجدې د ځای څخه هغه خوا ته نه گوري او په دوني فاصله کي بیا نژدې و مخ ته ورته تېرېدل چي د لمونځ کونکي نظر پر تېرېدونکي لگیږي نو بیا کراهیت لري .که څوک په ولاړه کي د سجدې ځای ته گوري نو درې صفونه هغه خوا ته بیا څوک په نظر نه ورځي لهذا په دښتونو کي او همدا راز په لویو لویو مسجدونو کي د درو صفونو څخه په لیري واټن کي تېرېدل د پورتنی وینا له مخي جایز بلل کیږي .مسأله: د هدایې په شرحه فتح القدیر کي وایې : وَلَوْ صَلَّى إِلَى وَجْهِ إِنْسَانٍ وَبَيْنَهُمَا ثَالِثٌ ظَهْرُهُ إِلَى وَجْهِ الْمُصَلِّي لَمْ يُكْرَهْ . که څوک و چا ته مخامخ لمونځ کوي خو د لمونځ کونکي او د هغه چا تر منځ چي لمونځ کونکي ته مخامخ ناست وي دریم نفر وي د هغه شا لمونځ کونکي ته وي نو بیا کراهیت نه لري . مثلاً امام چي لمونځ وکړي سلام وگرځوي او پر مقتدیانو مخ راواړوي، او په دوهم صف کي امام ته مخامخ مسبوق پا ته لمونځ پوره کوي نو دا پروا نه کوي ځکه چي د ده مخ ته په اول صف کي ناست کس د امام او مسبوق تر منځ ستره گرځي.

**۱۲.سوال: په کور کي و ښځو ته په جماعت سره لمونځ ورکول د اسلام له نظره څنګه دی؟ د سوال کوونکي نوم: عبدالولي**

**جواب:** بېله عذره په کور کی و ښځو ته جماعت ورکول کراهیت لري ځکه د صحیح قول پر بنسټ د اذان عملي اجابت پر نارینه ؤ واجب دی یعني اذان چي وسي نو د جماعت د لمانځه د اداینې د پاره به مسجد ته خامخا ورځي لکه څنګه چي په دالمحتار کي وایې : وَسَيَأْتِي أَنَّ الرَّاجِحَ عِنْدَ أَهْلِ الْمَذْهَبِ وُجُوبُ الْجَمَاعَةِ وَأَنَّهُ يَأْثَمُ بِتَفْوِيتِهَا اتِّفَاقًا . وَحِينَئِذٍ يَجِبُ السَّعْيُ بِالْقَدَمِ او ژر به دا مسئله درته راسي چي زمونږ د مذهب د



سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com/

علماؤ په اند راجح قول دا دی چي په جماعت لمونځ اداء کول واجب دی او د ټولو په آند د جماعت په پرېښولو ګناهکاره کيږي . د همدې مسئلې د لږ څيړني او تشريح وروسته وايي : إنَّ مَذْهَبَ الْإِمَامِ الْحَلْوَانِيِّ أَنَّهُ بِذَلِكَ لَا يَنَالُ ثَوَابَ الْجَمَاعَةِ وَأَنَّهُ يَكُونُ بِدْعَةً وَمَكْرُوهًا بِلَا عُذْرٍ ، د امام حلواني په آند که څوک په کور کي و ښځو لره جماعت ورکوي نو په دې سره د جماعت د لمانځه ثواب نه سي لاس ته راوړلای او بل داچي دا ډول کار بېله عذره څخه بدعت او مکروه کار دی .د عذر د جملې څخه دا هم ګڼل کيږي چي کله ناکله د جماعت لمونځ د چا څخه تير سی نو بيا دی په خپل کور کي و ښځو لره لمونځ په جماعت ورکړي لکه څه ډول چي په ردالمحتار کي د عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ عَنْ أَبِيهِ روايت رانقل کړي دي: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ لِيُصْلِحَ بَيْنَ الْأَنْصَارِ فَرَجَعَ وَقَدْ صَلَّى فِي الْمَسْجِدِ بِجَمَاعَةٍ ، فَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَنْزِلِ بَعْضِ أَهْلِهِ فَجَمَعَ أَهْلَهُ فَصَلَّى بِهِمْ جَمَاعَةً .وايي رسول الله ﷺ د کور څخه ووتی، څو د انصارو تر منځ جوړه راولي د جوړي څخه چي راستون سو د جماعت لمونځ ځني تېر سوی ؤ ، رسول الله ﷺ د خپلي يوې ښځي و حجري ته ننوت هلته يې خپله کورنۍ راغونډه کړه او د جماعت لمونځ يې ورته ورکړی .دا مسئله به هم پر زياته کړو چي د ښځو د پاره په خپل منځ کي جماعت کول هم کراهيت لري په الدر المختار وايی : ( وَ ) يُكْرَهُ تَحْرِيمًا ( جَمَاعَةُ النِّسَاءِ ) وَلَوْ التَّرَاوِيحَ د ښځو جماعت کول په تحريمي ډول مکروه دی که څه هم تراويح وي .

**۱۳ سوال پر بايئسکل، موټرسېکل،موټر او داسي نورو شيانو باندي زکات څنګه دی او د دوکان زکات به څه ډول ورکوي؟**

**د سوال کوونکي نوم: ظاهر جان**

جواب: عراده جات او دې ته ورته نور شيان پر دوه ډوله دي.يو ډول يې هغه دي چي څوک يې استعمال کوي کار ځيني اخلي او بل ډول يې هغه دي چي څوک خپل شخصي کار نه ځني اخلي بلکي د تجارت د پاره وي.هغه شيان چي څوک کار ځيني اخلي او استعمالوي يې لکه د ځان د سپرلۍ موټر يا موټرسيکل دا په حوائج اصليه يعني د ژوندانه په اصلي اړتياؤ کي راځي د دا ډول شيانو ارزښت چي هر څوني وي بيا هم زکات نه پر راځي او کوم شيان چي د تجارت د پاره وي لکه د شوروم موټران او موټرسيکلان او يا تجارتي مځکي چي څوک يې د ګټي د پاره رانيسي او بيرته يې خرڅوي او همدا يې تجارت او کاروبار وي همدا ډول شيان تجارتي شيان بلل کيږي د همدغو شيانو مالک که د زکات د نصاب څښتن وي د هر قمري کال په تيريدلو به د همدغو شيانو د ارزښت څخه په سلو کي دوې نيمي افغانۍ زکات ورکوي . په هداية کي وايي : الزَّكَاةُ وَاجِبَةٌ فِي عُرُوضِ التِّجَارَةِ كَائِنَةً مَا كَانَتْ إذَا بَلَغَتْ قِيمَتُهَا نِصَابًا مِنْ الْوَرِقِ أَوْ الذَّهَبِ لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِيهَا يُقَوِّمُهَا فَيُؤَدِّي مِنْ كُلِّ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ خَمْسَةَ دَرَاهِمَ ، زکات په هر تجارتي مال کي لازميږي هر شئ چي وي خو چي قيمت يې د سپينو زرو يا د سرو زرو نصاب ته ورسيږي ځکه په دې اړوند د رسول الله ﷺ وينا هم رانقل سوې ده ، ددې شيانو نرخ به ټاکي د ارزښت له مخي به د دوو سوو درهمو څخه پنځه درهمه يعني د مال د قيمت او بازاري نرخ دوه نيم په سلو کي زکات ورکوي .د هدايې شرح په فتح القدير کي وايي : وَفِي الْبَابِ أَحَادِيثُ مَرْفُوعَةٌ وَمَوْقُوفَةٌ ، فَمِنْ الْمَرْفُوعَةِ : مَا أَخْرَجَهُ أَبُو دَاوُد عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَب : أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُنَا أَنْ نُخْرِجَ الصَّدَقَةَ مِنْ الَّذِي يُعَدُّ لِلْبَيْعِ . ا هـ .سَكَتَ عَلَيْهِ أَبُو دَاوُد ثُمَّ الْمُنْذِرِيُّ ، وَهَذَا تَحْسِينٌ مِنْهُمَا ، وَصَرَّحَ ابْنُ عَبْدِ الْبَرِّ بِأَنَّ إسْنَادَهُ حَسَنٌ ،په دې اړوند مرفوع او موقوف احاديث رانقل سوي دي د مرفوع احاديثو څخه د سَمُرَةَ بن جندب رضي الله عنه روايت دی چي وايي : رسول الله ﷺ مونږ د هغو مالونو د زکات په ورکولو امر کولو چي هغه مالونه به د خرڅلاو ( يعني تجارت د پاره تيار سوي وه . )داچي د تجارتي مالونو او هم د مروجو سکو خاوند د زکات د نصاب څښتن دی او که نه دی ؟ دا د تجارتي مالونو د تقويم يعني ارزښت ټاکلو څخه معلوميږي که په درهمونو يعنی سپينو زرو د مالونو او مروجو سکو نرخ وټاکل سي که د ټولو ارزښت دوه سوه درهمه يعنی د اوو سوو ګرامو سپين زرو يا تر دې زياد سي د ارزښت څخه به يې دوه نيم فيصده زکات ورکوي او که په دينار يعني سرو زرو تقويم سي نرخ يې وټاکل سي نو بيا که يې ارزښت شل ديناره يعني اوه نيمي تولې ( ۹۰ ګرام ) سره زر يا تر دې زياد سي پر مالک يې زکات فرضيږي . د زکات د نصاب معيار دينار او درهم يعني سره زر او سپين زر دي نو داچي تجارتي مالونه او مروجي سکې د نصاب د معلوملو د پاره په څه شي تقويم سي ارزښت او نرخ يې معلوم کړل سي په دې اړه امام سرخسي رحمة الله عليه په مبسوط کي زمونږ د ائمه کرامو مذهب داسي رانقل کړی دی : وَيُقَوِّمُهَا يَوْمَ حَالَ الْحَوْلُ عَلَيْهَا إنْ شَاءَ بِالدَّرَاهِمِ وَإِنْ شَاءَ بِالدَّنَانِيرِ وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى فِي الْأَمَالِي أَنَّهُ يُقَوِّمُهَا بِأَنْفَعِ النَّقْدَيْنِ


سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com/

لِلْفُقَرَاءِ وَعَنْ أَبِي يُوسُفَ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى أَنَّهُ يُقَوِّمُهَا بِمَا اشْتَرَاهَا إنْ كَانَ اشْتَرَاهَا بِأَحَدِ النَّقْدَيْنِ فَيُقَوِّمُهَا بِهِ وَإِنْ كَانَ اشْتَرَاهَا بِغَيْرِ نُقُودٍ قَوَّمَهَا بِالنَّقْدِ الْغَالِبِ فِي الْبَلَدِ وَعَنْ مُحَمَّدٍ رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى أَنَّهُ يُقَوِّمُهَا بِالنَّقْدِ الْغَالِبِ عَلَى كُلِّ حَالٍ . ژباړه : تجارتي مالونه چي کال پر تېر سي په هغه مهال که د مالک خوښه وه په درهم (يعني سپينو زرو )او يا په دينار (يعني سرو زرو )تر نرخ به يې باسي ارزښت به ټاکي ، د ابوحنيفة رحمة الله عليه څخه په امالي (غير ظاهر الرواية )کي رانقل سوي دي چي په سرو او سپينو زرو کي چي د هر شي په نرخ ټاکنه کي د فقيرانو ګټه وه د هغه له مخي به يې نرخ ټاکي ، د ابويوسف رحمة الله عليه وينا دا ده کوم مالونه چي په درهم رانيول سوي وي د هغه نرخ او ارزښت په درهم ټاکل کيږي او کوم مالونه چي په دينار رانيول سوي وي د هغو نرخ په سرو زرو ټاکل کيږي او کوم مالونه چي په دينار او درهم نه وی رانيول سوي هغه بيا په دينار او درهم کي چي په هر يوه پلور او پير راکړه ورکړه زياته کېدله په هماغه يې نرخ ټاکل کيږي ، د محمد رحمة الله عليه وينا دا ده چي تجارتي مالونه په هر حالت کي په دينار او درهم يعنی په سرو او سپينو زرو کي په هغه شي تقويم کيږي نرخ او ارزښت يې ټاکل کيږي چي په دا ښار کي زياته راکړه ورکړه پلور او پير په کيږي .لهذا د دوکانداري او هم نور تجارتي مالونه د قمري کال په تېرېدلو تر نرخ وځي که نصاب پوره کړي د ارزښت له مخي به دوه نيم فيصده يعني په هرو زرو افغانيو کی پنځه ويشت افغانۍ او په هرو لکو افغانيو کي دوه نيم زره افغانۍ او په لسو لکو افغانيو کي پنځه ويشت زره افغانۍ هر کال زکات ورکوي .

**۱۴ سوال: يو مسلمان چي د بل مسلمان ورور غيبت وکړي او هغه مسلمان بيا د دې بل ورور غيبت وکړي، نو په آخرت کي الله جل جلاله و دواړو ته سزا ورکوي اوکه يوه ته؟ د سوال کوونکي نوم: محمد قاهر**

ځواب: په دنيا کي چي انسانان يو پر بل تېری او تجاوز کوي، يو د بل حقوق لاندي کوي، لکه څه ډول چي دلته وايي يو د يوه نفر غيبت کوي او هغه بيا د ده غيبت کوي د قيامت په ورځ د ټولو سره حساب کيږي د ټولو عملونه تلل کيږي څو خلګو ته د محشر پر عام ميدان په مشاهده وښودل سي چي د چا حق په چا پسي ورځي او بيا و مظلوم ته د ظالم څخه بدله ور اخيستل کيږي . امام ترمذي د عايشې رضي الله عنها څخه روايت کوي چي وايي : أَنَّ رَجُلًا قَعَدَ بَيْنَ يَدَيْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي مَمْلُوكِينَ يَكْذِبُونَنِي وَيَخُونُونَنِي وَيَعْصُونَنِي وَأَشْتُمُهُمْ وَأَضْرِبُهُمْ فَكَيْفَ أَنَا مِنْهُمْ قَالَ يُحْسَبُ مَا خَانُوكَ وَعَصَوْكَ وَكَذَبُوكَ وَعِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ كَانَ كَفَافًا لَا لَكَ وَلَا عَلَيْكَ وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ دُونَ ذُنُوبِهِمْ كَانَ فَضْلًا لَكَ وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوبِهِمْ اقْتُصَّ لَهُمْ مِنْكَ الْفَضْلُ قَالَت فَتَنَحَّى الرَّجُلُ فَجَعَلَ يَبْكِي وَيَهْتِفُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا تَقْرَأُ كِتَابَ اللَّهِ

{ وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ }الْآيَةَ فَقَالَ الرَّجُلُ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا أَجِدُ لِي وَلِهَؤُلَاءِ شَيْئًا خَيْرًا مِنْ مُفَارَقَتِهِمْ أُشْهِدُكُمْ أَنَّهُمْ أَحْرَارٌ كُلُّهُمْ .يو سړی د رسول الله ﷺ په مخ کي کښېنستئ ويې ويل : اې د الله رسوله ﷺ! زه مريان لرم هغوی درواغ راته وايي ، خيانت را سره کوي حکم مي نه پر ځای کوي او زه بيا هغوی ته ښکنځل کوم او وهم يې نو زما او د دوی حالت څه ډول دی . رسول الله ﷺ ورته وويل : دوی چي ستا سره څوني خيانت کړی نافرماني يې کړې او درواغ يې درته ويلي دي او تا چي دوی لره څوني سزا ورکړې ده دا ټول حساب کيږي که ستا سزا د دوی د ګناهونو په اندازه وه نو تاسو سر په سر سواست نه ستا په دوی پسي حق ورځي او نه د دوی حق په تا پسي درځي او که ستا سزا د دوی تر ګناهونو کمه وه ستا حق په دوی پسي ورځي او که ستا سزا د دوی تر ګناهونو زياته وه نو د هغه اضافي سزا کسات ستا څخه و دوی ته ور اخيستل کيږي .عايشة رضي الله عنها وايي : سړی ګوښه سو ژړا او چغي يې وهلې . رسول الله ﷺ ورته وويل : ايا ته د الله کتاب قران نه لولې چي وايي :وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ او مونږ د قيامت په ورځ د عدالت ترازوګان ږدو پر هيچا باندي ظلم نه کول کيږي .. دې سړي وويل : اې د الله جل جلاله رسوله ﷺ ! زما او د دوی د پاره تر دې غوره بل څه نه وينم چي دوی د ځان څخه بېل کړم نو زه تاسو په دې ګواهان کوم چي ما دوی آزاد کړي دي .په دې نبوي حديث کي چي څه ذکر سوي دي د غيبت حکم هم همدا ډول دئ خو دا هم بايد په پام کي ولرو چي انسانان چي په خپل منځ کي يو پر بل کوم ظلمونه کوي دا يو د بل سره په قصاص اداء کيږي البته د الله جل جلاله د حکم څخه سرغړونه ځان ته جرم دی که الله جل جلاله بخښنه ورته و نه کړي نو د سزا سره به يې هرومرو مخامخ کيږي ، غيبت دا ډول ګناه نه ده چي يوازي د بل انسان حق په کښي پايماله کيږي بلکي د خپل رب او خالق د حق پايماله کول هم دي نو ځکه د غيبت کونکو غيبت کول که په خپل منځ کي سره برابر هم سي د الله جل جلاله د حکم د نافرمانۍ له کبله که الله جل جلاله وغواړي سزا به ورکوي څوک بايد داسي


سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com/

فکر و نه کړي چي زه که د بل غیبت کوم هغه بیا زما غیبت کوي نو د اخرت په ورځ به سر په سر کیږو دا ډول فکر کول شیطاني چال او د ځان تېرایستنه ده .د دې تر څنګ غیبت هم باید وپیژنو ځکه ډېر نفر غیبت کوي خو غیبت ته غیبت نه وایي :

امام مسلم رحمة الله علیه د ابوهریرة ﷺ څخه روایت کوي وایي رَسُول اللَّهِ ﷺ وفرمایل : أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ . ایا تاسو پوهیږی چي غیب څه ته وایي ؟ هغو ورته وویل : الله جل جلاله او د الله رسول ﷺ تر بل هر چا ښه په پوهیږي رسول الله ﷺ ورته وویل : ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ د خپل ورور په داسي څه یادونه کول چي هغه یې بد ګڼي غیبت دئ .قِيلَ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ قَالَ یو چا وویل : ته راته ووایه کوم عیب چي زه د خپل ورور بیانوم که هغه په ده کي وي نو دا هم غیبت دی ؟ رسول الله ﷺ ورته وویل : إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ . کوم څه چي ته یې پر خپل ورور وایې که هغه په ده کي وي نو تا یې غیبت وکړئ او که هغه عیب په ده کي نه وي او ته یې پر وایي نو دا بیا تا پر خپل ورور بهتان ووایه .

**۱۵ سوال : پر هغو کاغذانو چي سپېڅلي توري لیکل سوي وي هغه که نه استعمالیږي او یا زاړه سي نو باید څه پرې وکړل سي ؟**

**د سوال کوونکي نوم : محمد**

**جواب** :په ردالمحتار کي دا مسئله داسي را نقل سوې ده: وَفِي الذَّخِيرَةِ : الْمُصْحَفُ إذَا صَارَ خَلَقًا وَتَعَذَّرَ الْقِرَاءَةُ مِنْهُ لَا يُحْرَقُ بِالنَّارِ إلَيْهِ أَشَارَ مُحَمَّدٌ وَبِهِ نَأْخُذُ ، وَلَا يُكْرَهُ دَفْنُهُ ، وَيَنْبَغِي أَنْ يُلَفَّ بِخِرْقَةٍ طَاهِرَةٍ ، وَيُلْحَدَ لَهُ لِأَنَّهُ لَوْ شُقَّ وَدُفِنَ يَحْتَاجُ إلَى إهَالَةِ التُّرَابِ عَلَيْهِ ، وَفِي ذَلِكَ نَوْعُ تَحْقِيرٍ إلَّا إذَا جُعِلَ فَوْقَهُ سَقْفٌ وَإِنْ شَاءَ غَسَلَهُ بِالْمَاءِ أَوْ وَضَعَهُ فِي مَوْضِعٍ طَاهِرٍ لَا تَصِلُ إلَيْهِ يَدُ مُحْدِثٍ وَلَا غُبَارٌ ، وَلَا قَذَرٌ تَعْظِيمًا لِكَلَامِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ ا هـ وایي: قرآن کریم،چي زوړ سي او لوستل کېدلای نه سي په اور دي نه سوزل کیږي همدې مسئلې لره امام محمد رحمة الله علیه اشاره کړې او په همدې سره مونږ عمل کوو او ښخول یې کراهیت نه لري خو په کار ده ،چي قرآن عظیم الشان په یو پاک ټوکره کي و پېچل سي او بیا لحد غوندي ځای کي ښخ کړل سي . ځکه که همداسي جر ورته وکندل سي پر هغه خاوره اچول کیږي په دې کي هم څه سپکاوی راځي البته که پر جر چت جوړ کړل سي بیا ستونزه نسته ، داسي هم کولای سي ،چي په اوبو یې پرېمنځي یعني په اوبو یې لیکنه خرابه کړي او یا یې داسي پاک ځای کښېږدي چي هلته د بې اودسو لاس نه پرلګیږي او نه چټلي او دوړي پر لویږي دا ټول د الله جل جلاله د کلام د تعظیم له کبله په کار دي .البته کوم ځای چي قرآن پکښي ښخ کیږي هغه باید ناپاک او د خلګو د تلو راتلو لاره نه وي .د نورو کتابونو په هکله په الدر المختار کي وایي : الْكُتُبُ الَّتِي لَا يُنْتَفَعُ بِهَا يُمْحَى عَنْهَا اسْمُ اللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَيُحْرَقُ الْبَاقِي وَلَا بَأْسَ بِأَنْ تُلْقَى فِي مَاءٍ جَارٍ كَمَا هِيَ أَوْ تُدْفَنَ وَهُوَ أَحْسَنُ كَمَا فِي الْأَنْبِيَاءِ .کوم کتابونه چي ګټه ځني اخیستل کېدلای نه سي د هغو څخه د الله جل جلاله نومونه د رسول الله ﷺ او نورو پیغمبرانو او ملائکو نومونه محوه کیږي یعني په توړلو یا قلم ځني پاک کیږي او نوري لیکني یې سوځل کیږي خو دا هم پروا نه کوي چي همداسي یې روانو اوبو ته وغورځوي البته ښخول یې غوره دي .د صحیح غرض یا د پایماله کیدلو څخه د خوندي ساتني په غرض د کاغذ له مخي د الله جل جلاله د نامه خرابول جواز لري ځکه څه مهال چي رسول الله ﷺ د عمرې د پاره مکې مکرمې ته تلی په حدیبیه کي د مشرکانو له خوا څخه د عمرې د اداینې څخه راوګرځول سو او وروسته هلته د مکې د مشرکانو سره مصالحه او جوړه وسوه او د جوړې تړون لیک حضرت علي ﷺ ولیکی امام بخاري د الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ ﷺ څخه روایت کوي :

فَكَتَبَ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لَا تَكْتُبْ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ لَوْ كُنْتَ رَسُولًا لَمْ نُقَاتِلْكَ فَقَالَ لِعَلِيٍّ امْحُهُ فَقَالَ عَلِيٌّ مَا أَنَا بِالَّذِي أَمْحَاهُ فَمَحَاهُ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ بِيَدِهِ په تړون لیک کي یې محمد رسول الله ﷺ ولیکی مشرکانو و رسول ﷺ ته وویل : محمد رسول الله ﷺ مه لیکه ځکه که ته رسول وای نو مونږ ستا سره جنګ نه کاوه نو نبي کریم ﷺ و حضرت علي ﷺ ته وویل چي د رسول الله ﷺ توري ځني پاک کړه ، حضرت علي ﷺ وویل چي زه خو د رسول الله ﷺ لفظ نه ځني پاک کوم بیا نبی کریم ﷺ په خپل لاس د رسول الله ﷺ کلمه د محمد ﷺ د څنګ څخه پاکه کړه .نو ځکه زمونږ علماء کرام وایي چي په کومو کتابونو کي چي د الله جل جلاله یا رسول الله ﷺ او نورو پیغمبرانو یا ملائکو نومونه لیکل سوي وي هغه دي ځني پاک کړي پاته لیکني یې سوځولای سي .په ردالمحتار کي یې دا مسئله هم ذکر کړې ده : رُقْيَةٌ فِي غِلَافٍ مُتَجَافٍ لَمْ يُكْرَهْ دُخُولُ الْخَلَاءِ بِهِ ، وَالِاحْتِرَازُ أَفْضَلُ .وَلَا يَجُوزُ لَفُّ شَيْءٍ فِي كَاغَدٍ فِيهِ فِقْهٌ ، وَفِي كُتُبِ الطِّبِّ يَجُوزُ ، وَلَوْ فِيهِ اسْمُ اللَّهِ أَوْ الرَّسُولِ فَيَجُوزُ مَحْوُهُ لِيُلَفَّ فِيهِ شَيْءٌ ، بیت الخلا ته د داسي لیکلي دم سره ننوتل چي په جلا پوښ کي پېچل سوی وي کراهیت نه لري البته ددې څخه هم ځان ژغورنه

افضل ده ، او په داسي كاغذونو كي د شيانو پيچل جواز نه لري چي په هغه كي فقهي مسايل ليكل سوي وي البته د طب په ليكنو كي د شيانو پيچل پروا نه كوي خو كه د الله جل جلاله او د رسول ﷺ نوم په كښي ليكلى وي نو بيا د دې سپېڅلو نومونو خرابول د دې د پاره چي په پاته كاغذه كي يو شی وپيچل سي جواز لري .

**۱۶ سوال: يو مقتدى كه په امام پسي اقتدا وكړي او امام سورة الفاتحه شروع كړې وي نو مقتدى به سبحانك اللهم وايي او كه به پټه خوله دريږي ؟ د سوال كوونكي نوم : ميرويس عطائي**

**ځواب** : په سري يعني د پټي خولې په لمونځونو كي لكه د ماپښين او مازيگر لمونځونه مقتدى د تحريمې د تكبير وروسته ثناء يعني سبحانک اللهم لولي كه څه هم امام په خپل قرائت پيل كړی وي او په جهري لمونځونو كي لكه د سهار ، ماښام او ماخستن لمونځونه كه امام په قرائت پيل وكړي او بيا وروسته مقتدى اقتداء پسي وكړي نو مقتدى د تحريمې وروسته ثناء نه وايي بلكي د امام قرائت ته غوږ كيږي .مسبوق هم همدا ډول كوي په رد المحتار كي وايي ( وَالْمَسْبُوقُ مَنْ سَبَقَهُ الْإِمَامُ بِهَا أَوْ بِبَعْضِهَا وَهُوَ مُنْفَرِدٌ ) حَتَّى يُثْنِيَ وَيَتَعَوَّذَ وَيَقْرَأَ ، مسبوق هغه چا ته وايي چي د لمانځه ټول ركعتونه يا يو څو ركعتونه ځنی تېر سوي وي مسبوق د پاته لمانځه په راگرځولو كي د منفرد په شان دئ ثناء ،تعوذ، او قرائت به لولي يعني څه مهال چي د امام د سلام وروسته پاته لمونځ پسي پوره كوي .البته دا په هغه صورت كي چي ثناء يې د تحريمې وروسته ويلې نه وي ځكه په الجوهرة النيرة كي وايي : وَكَذَا الْمَسْبُوقُ إذَا قَامَ إلَى الْقَضَاءِ لَا يَأْتِي بِهِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ ؛ لِأَنَّهُ قَدْ أَتَى بِهِ عَقِيبَ الثَّنَاءِ وَعِنْدَهُمَا يَأْتِي بِهِ . او همدا ډول مسبوق چي د پاته لمانځه د پاره ولاړ سي د ابويوسف رحمة الله عليه په آند به اعوذ بالله نه وايي ځكه چي مسبوق اعوذ بالله د ثناء وروسته لا مخته ويلې ده او د ابوحنيفة او محمد رحمهما الله په آند مسبوق چي د پاته لمانځه د پوره كولو د پاره ولاړ سي اعوذ بالله به وايي ، ددې وينا مقصد دادئ چي تعوذ د ابويوسف رحمة الله عليه په آند د ثناء تابع ده او ثناء د تحريمې وروسته ويل كيږي نو ځكه پر مسبوق تعوذ نسته او د ابوحنيفة او محمد رحمهما الله په آند تعوذ د قرائت تابع ده .

**۱۷ سوال : زه چي كله پر لمانځه ودريږم نو ماته ټول هغه واقعات كوم چي ما ليدلي وي، اورېدلي مي وي او يامي كړي وي نو هغه ماته د وسوسې په شكل را په ياديږي، كه دا راته ووایاست ،چي دا خو به لمانځه ته كوم ضرر نه لري او ددې دفع په څه ډول كېدای سي ؟ د سوال كوونكي نوم :احمدالله**

**جواب** : امام مسلم رحمة الله عليه د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت كوي وايي النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمای‌لي دي : إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ لَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لَا يَسْمَعَ التَّأْذِينَ فَإِذَا قُضِيَ التَّأْذِينُ أَقْبَلَ حَتَّى إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ أَدْبَرَ حَتَّى إِذَا قُضِيَ التَّثْوِيبُ أَقْبَلَ حَتَّى يَخْطُرَ بَيْنَ الْمَرْءِ وَنَفْسِهِ يَقُولُ لَهُ اذْكُرْ كَذَا وَاذْكُرْ كَذَا لِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ مِنْ قَبْلُ حَتَّى يَظَلَّ الرَّجُلُ مَا يَدْرِي كَمْ صَلَّى . څه مهال ،چي آذان ناري سي شيطان په تېښته سي شاه كړي او د بادو ږغونه ترې وزي څو آذان وا نه وري او څه وخت چي آذان ختم سي بيرته راستون سي او څه وخت چي اقامت شروع سي بيا په تېښته سي شاه كړي تر داسي ځايه ځي چي د اقامت ږغ وا نه وري او څه وخت چي اقامت ختم سي بيرته راسي لمونځ كوونكي ته په زړه كي وسوسې ور اچوي، ورته وايي پلانكی شئ درياد كړه پلانكی شئ درياد كړه داسي شيان ورياد وي كوم چي د لمانځه د باندي يې هيڅ ياد نه وه، تر داسي اندازې وسوسې وراچوي چي لمونځ كوونكي ته نه معلوميږي چي اوس ده څو ركعته لمونځ وكړ.نو دا د شيطان طريقه ده چي هر لمونځ كوونكي لره په لمانځه كي داسي شيان وريادوي چي د لمانځه تر مخه يې هيڅ ياد نه وي تر څو دی د لمانځه څخه مشغوله كړي او په لمانځه كي يې تېرباسي .عُثْمَانَ بْنَ أَبِي الْعَاصِ وايي زه نَبِيّ ﷺ ته ورغلم او ورته و مي ويل : يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِي وَبَيْنَ صَلَاتِي وَقِرَاءَتِي يَلْبِسُهَا عَلَيَّ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خَنْزَبٌ فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْهُ وَاتْفِلْ عَلَى يَسَارِكَ ثَلَاثًا قَالَ فَفَعَلْتُ ذَلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللَّهُ عَنِّي (مسلم )اې د الله جل جلاله رسوله ﷺ ! شيطان زما او د لمانځه تر منځ رالويږي قرائت را باندي گډ وډ كوي . رسول الله ﷺ وويل : دا شيطان دئ د خنزب په نامه يادیږي چي په وسوسو يې پوه سي نو اعوذ بالله من الشيطان الرجيم ووايه او كيڼ يعنى چپ خوا ته درې ځلي توف كړه . عثمان بن ابى العاص



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com/

ﷺ وایي ما همداسي وکړل نو الله جل جلاله د شیطان وسوسې را څخه لیري کړلې همدا د شیطان د وسوسو د مخنیوي لپاره علاج دی.

**۱۸ سوال :که چیري څوک یو ځای ګرو کړي او بیا دا ځای و بل چا ته په کرایه باندي ورکړي نو دا څنګه کار دی؟**
**د سوال کوونکي نوم :حاجي نثاراحمد**

**جواب :** د ګروي شئ مرتهن یعنی هغه څوک چي دا شئ یې د ګروۍ په ډول په لاس کي دی بل چا ته یې نه په کرایه ورکولای سي او نه د هغه څخه کار اخیستلای سي بلکی دا د ده د پور د پاره یوه وثیقه ده که مدیون او پوروړي یې پور نه ور اداء کاوه د همدا ګروۍ څخه به خپل پور ور سره مجرا کوي نو ځکه ګروي به د امانت د شي په شان ساتي .په فتاوی هندیه کي وایي : وَلَوْ ارْتَهَنَ الرَّجُلُ دَابَّةً ، وَقَبَضَهَا ثُمَّ آجَرَهَا مِنْ الرَّاهِنِ لَا تَصِحُّ الْإِجَارَةُ ، وَيَكُونُ لِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يَعُودَ فِي الرَّهْنِ ، وَيَأْخُذَ الدَّابَّةَ .که یو سړی حیوان ګرو کړي او قبض یې کړي او د قبض وروسته یی و راهن یعني (د حیوان و مالک )ته په کرایه ورکړي دا اجاره نه صحیح کیږي البته مرتهن یعني پور ورکونکی کولای سي ګروي راوګرځوی دا حیوان بیرته د خپل مالک څخه په ګروي کي واخلي .وَإِنْ آجَرَ الْمُرْتَهِنُ مِنْ أَجْنَبِيٍّ بِأَمْرِ الرَّاهِنِ يَخْرُجُ مِنْ الرَّهْنِ ، وَتَكُونُ الْأُجْرَةُ لِلرَّاهِنِ ، وَإِنْ أَجَازَا جَمِيعًا كَانَ الْأَجْرُ لِلرَّاهِنِ .او که ګروي اخیستونکی د ګروۍ ورکونکي په اجازه بل کس ته د ګروۍ شئ په کرایه ورکړي ، ګروي د ګروي د حکم څخه وځي او کرایه یې د ګروي ورکونکي یعني د رهن د مالک کیږي . همدا ډول که ګروي اخیستونکی او ګروي ورکونکی دواړه د ګروي شی بل ته په کرایه ورکوي نو کرایه یې د رهن د مالک او څښتن حق کیږي . وَإِنْ كَانَتْ الْإِجَارَةُ بِغَيْرِ إذْنِ الرَّاهِنِ يَكُونُ الْأَجْرُ لِلْمُرْتَهِنِ يَتَصَدَّقُ بِهِ ، وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يُعِيدَهَا فِي الرَّهْنِ ، وَيَخْرُجُ مِنْ الرَّهْنِ كَذَا فِي فَتَاوَى قَاضِي خَان رحمة الله علیه . او که ګروي اخیستونکی د راهن د اجازې پرته پر خپل سر د ګروۍ شی بل ته په کرایه ورکړي نو کرایه یې د ګروي اخیستونکي ده خو البته دا کرایه به خیرات کوي د کرایې په صورت کي رهن د ګروۍ د حکم څخه وځي خو بیا هم مرتهن یې په ګروي کي بیرته راګرځولای سي .دلته چي مرتهن د رهن کرایه د هغه مالک یعني راهن ته نه ورکوي پخپله یې اخلي خو ځان ته یې هم نه راګرځوي بلکی و مسکینانو او اړو کسانو ته یې همداسي بېله د ثواب د نیت څخه ورکوي د هغه وجه دا ده چي د ګټي مستحق هغه څوک دی چي که تاوان راځي تاوان یې پر هغه وي امام ابوداود د عایشې رضي الله عنها څخه روایت کوي وایي رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فرمایلي دي : الْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ د شي حاصل او ګټه د هغه چا ده چي تاوان یې هم پر هغه وي .نو مرتهن چي د ګروۍ شئ پر خپل سر بل ته په کرایه ورکوي او یا کار ځني اخلي دا شئ د رهن د حکم څخه وزي که دا شئ ورک سي یا له منځ څخه ولاړ سي ټول تاوان یې پر مرتهن او ګروي اخیستونکي دی دا ځکه چي دی متعدي او تر ټاکلي حد تېری کونکی دی او که ګروي د امانت په ډول ساتي کار نه ځني اخلي نو بیا که له منځ څخه ولاړ سي د ده د پور په اندازه تاوان یې پر ده دی د رهن ارزښت او قیمت که د ده تر پور زیاد ؤ هغه تاوان پر راهن یعني د ګروۍ پر مالک راځي د بیلګي په ډول احمد محمود ته سل زره افغانۍ پور ورکړ د محمود څخه یې د هغه د پنځو لکو افغانیو موټر د وثیقې په ډول په ګروي کي ځني واخیستۍ که احمد موټر په کور کي د ساتني د پاره درولی وي لکه څه ډول چي د رهن حکم دی هغه ډول یې ساتي او بیا کورته د شپې داړماران د توپکو سره ورسي موټر د توپک په زور ځني بوزي نو دلته د موټر قیمت چي پنځه لکه افغانۍ ؤ د یو لکو افغانیو تاوان یې پر احمد راځي پور یې اداء کیږي او د څلورو لکو تاوان پر محمود چي د موټر مالک او راهن دی پر هغه راځي ځکه دلته مرتهن یعني احمد متعدي او تر حد تېری کونکی نه دی چي د رهن ټول تاوان پر راسي خو که احمد پر خپل سر موټر د چلاو د پاره را وباسي یا یې بل ته په کرایه ورکړي او بیا داړماران د توپک په زور موټر ځني واخلي نو احمد به محمود ته څلور لکه افغانۍ ورکوي او همدا راز هغه یو لک افغانۍ یې هم د موټر په قیمت کي ور سره مجرا کیږي ځکه احمد تر حد تېری وکړی متعدي دی د تعدی او تېري په وخت کي چي احمد په موټر څه کرایه جوړه کړي نو هغه هم د احمد کېږي ځکه چي په دا مهال کي که موټر ته کوم زیان رسیږي د هغه تاوان پر احمد راځي ځکه چي الْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ خو دا ګټه یوه ناجایزه ګټه ده مرتهن ته جایز نه ده نو ځکه ځان ته به یې هم نه راګرځوي بلکی په خیرات کي به یې و مسکینانو ته ورکوي خو د ثواب په نیت به یې نه ورکوي ځکه : امام ترمذي د ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما څخه روایت کوي وایي نَّبِيّ ﷺ فرمایلی دي لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ بِغَيْرِ طُهُورٍ وَلَا صَدَقَةٌ مِنْ غُلُولٍ . هیڅ یو لمونځ بې طهارته نه صحیح کیږي او نه د حرام مال صدقه قبلیږي. د همدغه ډول هر حرام مال طریقه دا ده لکه یو مردار حیوان چي څوک تر خاورو لاندي کوي همداسي به دا ډول حرامه ګټه بېله د ثواب د


سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com/

نیت څخه و اړو کسانو ته ورکوي .

**۱۹ سوال: دا ښځي چي و بازار ته بېله حجابه څخه راوځي د اسلام له نظره څنګه کار دی؟ د سوال کوونکي نوم: قدرت الله**

**ځواب:** ټولو مسلمانو ښځو ته په کار ده چي په کورونو کي و اوسیږي او دباندي بازارو ته بېله سخت ضرورت څخه را و نه وزي ، البته د داسي ضرورت له کبله چي په شریعت کي یې د پوره کولو د پاره و بازار ته د راوتلو اجازه ورکول کیږي باید په حجاب او پرده کي په دې ډول را ووځي چي نورو مسلمانانو ته د فتني سبب و نه ګرځي او نه د دوی عفت د ګواښ سره مخامخ سي .مسلمانه ښځه باید په ځان کي د جنتي ښځي صفات را پیدا کړي .امام مسلم رحمة الله علیه د انس رضي الله عنه څخه روایت کوي وایي نبي کریم ﷺ فرمایلي دي : إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوقًا يَأْتُونَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ فَتَهُبُّ رِيحُ الشَّمَالِ فَتَحْثُو فِي وُجُوهِهِمْ وَثِيَابِهِمْ فَيَزْدَادُونَ حُسْنًا وَجَمَالًا فَيَرْجِعُونَ إِلَى أَهْلِيهِمْ وَقَدْ ازْدَادُوا حُسْنًا وَجَمَالًا فَيَقُولُ لَهُمْ أَهْلُوهُمْ وَاللَّهِ لَقَدْ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا فَيَقُولُونَ وَأَنْتُمْ وَاللَّهِ لَقَدْ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا . باور وکړئ په جنت کي یو بازار دی د یوې هفتې په مده کي جنتیان ور ټولیږي هلته د شمال باد پر را الوزي په چهرو او جامو کي یې ښکلا او زینت ورپاشي نو په حسن او جمال کي زیاتوب راسي بیا کورونو ته ستنیږي په داسي حالت کي چي حسن او ښکلا یې تر پخوا زیاته سوې وي په کورونو کي خپلي ښځي ورته وایې : والله تاسي چي زمونږ څخه تللي یاست په حسن او ښکلا کي مو زیاتوب راغلی دی خو د ښځو په ښکلا کي به یې هم زیاتوب راغلی وي نو دوی به خپلو ښځو ته وایي : والله له هغه وخت څخه وروسته چي موږ له تاسو څخه تللي یوو ستاسو په ښکلا او حسن کي هم زیاتوب راغلی دی. له دې حدیث څخه معلومه سوه چي په جنت کي چي کوم بازار جوړیږي هلته جنتي بیبیاني نه ورځي بلکي په خپلو قصرونو او ماڼیو کي اوسیږي ، و ښځي لره الله جل جلاله پر عزت ورکړی دئ او د ښځي عزت په پاک لمني او عفت کي نغښتی دئ او د ښځو عفت به هلته خوندي وي چي په خپلو کورونو کي واوسي د نامحرمو کسانو سره په تنها ځایونو کي و نه اوسي او د اړتیا په مهال د کور څخه په شرعي حجاب او د محرم په ملتیا راووزي . الله جل جلاله د نبي کریم ﷺ و پاکو ښځو ته خطاب کوي ددې وینا حکم عام و ټولو مؤمنانو ښځو ته دئ: وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى (33 الاحزاب) ژباړه: تاسي په خپلو کورونو کي اوسیږئ او د کفري جاهلیت د زماني په شان په مستۍ او پېشن کي مه راوځئ .یعني د حیاء تګ کوئ خپل زینت ، ښکلا او محاسن پټوئ او نورو ته یې مه ښکاره کوئ . نو ځکه مؤمناني ښځي باید په کورونو کي و اوسیږي او بېله ضرورت څخه د کورونو څخه دباندي را و نه وځي که د شرعي او انساني ضرورتو لکبله و دباندي راوتلو ته اړتیا پیدا کوي نو باید عطر په ځان و نه وهي ، د پاک لمني ښځي په شان د حیا څخه ډک تګ وکړي ، خپل محاسن ، پېشن ، ښکلا ،او جامي خلګو ته ښکاره نه کړي او نه د ګېڼو او زیوراتو شرنګې په خلګو واوري داسي حرکت و نه کړي چي د فاجرانو امید او هیلي ځان لره پیدا کړي او یا د خلګو پام ځان ته راواړوي .

**۲۰ سوال: د اسلام له نظره یو پلار باید و خپل زوی ته په څو کلنۍ کي واده ور وکړي؟ د سوال کوونکي نوم: شمس الله**

**ځواب:** په اخلاقي لحاظ نه یوازي پلار بلکي ټول اولیاء مسؤلیت لري چي د بې واده نارینه او ښځینه سره د هغوی د نکاح په تړون کي مرسته وکړي او د خپل سیال او کفؤ سره یې د نکاح تړلو موقع ورته برابره کړي لکه څنګه چي الله جل جلاله فرمایلي دي : وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ( النور ۳۲ ) تاسو په تاسو کي کونډو او بې واده کسانو ته واده ورکوئ او هم مو د واده وړ مریانو او مینځیانو ته واده ورکوئ که ناواده کسان مو فقیران وي نو الله جل جلاله به یې د خپل فضل څخه غنیان وګرځوي الله جل جلاله واسع دی (د هر شي پراخي ورسره سته ) او په هر څه علم لري .البته پلار په حتمي ډول د خپل زوی د واده مسؤلیت نه لري نو ځکه دا خبره هم دلته مطرح کیدلای نسي چي په څو کلني کي باید واده ور وکړي ؟ البته د لوڼو په هکله حکم دا دی چي کفؤ او سیال یې پیدا سي په نکاح کي یې ځنډ را نه وستل سي . امام ترمذي د أَبو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه څخه روایت کوي: وایي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : إِذَا خَطَبَ إِلَيْكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ إِلَّا تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ . که تاسو ته داسي ښوک مرکه وکړي چي، د هغه دیانت او اخلاق تاسو ته د خوښۍ وړ وي نو هغه لره یې په نکاح ورکوئ که



سرچینه: http://www.taleemulislam-radio.com/

تاسو داسي نه وکړی نو بیا پر مځکه فتنه او پراخه فساد خپرېږي . یعني د خپلو لوڼو او خویندو لپاره د خپلوۍ د پاره ددې تلاښ مه کوئ چي شتمن او د لوړي کورټۍ څخه به وي که د شتمنو په هیله نور مرکه کونکي جواب کوئ نو پایله به دا وي چي ډیري نجوني او هلکان به بې واده پاته کیږي چي په نتیجه کي به په ټولنه کي لوی ناورین را منځ ته کړي د خپلوۍ د پاره چي تر ټولو مهم او اړین صفت دی هغه دیانت او ښه اخلاق دي ځوک چي دیانت او ښه اخلاق و نه لري نو هغه که هر څوني شتمن او د لوړ منصب څښتن هم وي بیا به هم د ښځي ژوند او آخرت ور سره خرا بیږي .د یادوني وړ ده چي ځوانانو ته پاک رسول ﷺ حکم کړی دی چي که وکړای سي ژر تر ژره دي واده کوي : يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنْ اسْتَطَاعَ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ ( متفق علیه ) پاک رسول ﷺ وايي : اې د ځوانانو ټولۍ ! که په تاسي کي څوک د واده کولو توان ولري واده دي وکړئ ځکه واده تر بل هر شي نظر د ناروا څخه را ټیټ کوي او فرج د ناروا څخه ساتي او که څوک د واده توان نه لري هغه دي روژې نیسي ځکه روژه د هغه د پاره په منزله د خصي کیدو ده یعني شهواني قوه کمزورې کوي . نبي کريم ﷺ ټول ځوانان دې ته ترغیب او هڅولي دي چي تاسي که توان او طاقت ولری ژر تر ژره واده کوئ همدا واده دی چي د مځکي پر مخ د انساني نسل بقا په راځي او ټولنه د زنا او بد اخلاقیو د ناورین څخه په خوندي کیږي .و آخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین .



نویسنده: داکتر محمد عارف "عرفان"

# اعجاز اثر انگشت

أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَٰنُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُۥ ﴿٣﴾ بَلَىٰ قَٰدِرِينَ عَلَىٰٓ أَن نُّسَوِّىَ بَنَانَهُۥ ﴿٤﴾ سورة القيامة الاية ٣ ،٤) .کفار منکر حیات روباره انسان بعد از مرگ بودند و اظهار میداشتند که امکان ندارد پس از مرگ و خاک شدن گوشت و استخوان بدن دوباره زنده شوند. و میگفتند (أَإِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ سورة الواقعة الاية ﴿٤٧﴾ یعنی زمانیکه ما بمیریم و به خاک و استخوان تبدیل شویم آیا دوباره زنده میشویم. جواب قرآن عظیم الشان همراه با تاکید است و میفرماید: الله جَلَّ جَلَالُهُ فقط قادر به پیدایش دوباره استخوان و جسم انسان است، بلکه میتواند خطوط انگشتان او را نیز دوباره به همان شکل اول بازسازی کند. اما چرا الله جَلَّ جَلَالُهُ به بنان که همان نوک انگشت است اشاره میکند و نه به سایر اعضای بدن انسان؟ آیا خلقت سر انگشت پیچیده تر از استخوان است؟ دانش بشری در قرن نزده هم به راز اثر انگشت پی برد و متوجه گردید که سر انگشتان انسان از خطوط بارز و پست به صورت مارپیچ در بشرهٔ پوست تشکیل شده اند. نحوه امتداد این خطوط در افراد متفاوت است به طوریکه شکل این خطوط حتی در اطفال دوگانگی ها با هم شباهت ندارد. اکنون از لحاظ علم طب ثابت شده است که در تمام دنیا دو نفر چنان پیدا نمیشوند که اثر انگشت شان مشابه همدیگر باشند. خطوط سر انگشتان زمانیکه طفل در رحم مادر چهار ماهه باشد شکل گرفته و تا پایان عمر تغیر نمی کند. امکان دارد که دو اثر انگشت تا حد با هم شباهت داشته باشند ولی هیچ وقت باهم مطابقت نمی کنند. به هم دلیل است که در تمام کشورهای دنیا اثر انگشت هر فرد را معرف شخصیت وی میدانند. روی همین دلیل مجریان قانون در تحقیقات جنایی برای کشف هویت مجرمین و دزدان از اثر انگشت به عنوان وسیله مؤثر و مفید استفاده مینماید. رمز اشاره قرآن عظیم الشان به خلق دوباره خطوط سر انگشت مرده گان این است که به انسانها بفهماند که الله جَلَّ جَلَالُهُ قادر است حتی خصوصیت های فردی اشخاص را که آنها را از دیگران متمایز میسازد، نیز مجدداً خلق نمایند. و همین اشاره برای افراد عاقل کفایت میکند تا یقین داشته باشند که حیات بعد از مرگ حق است همان طوریکه مرگ حق است.

## ستاسو په اند د تعليم الاسلام ولسي راډيو د خپرونو اوریدل څومره مهم دي

**سوال د تعليم الاسلام ولسي راډيو د خپرونو اورېدل د هري کورنۍ لپاره څومره مهم او ګټور ګڼۍ؟**

جواب: ( **فريداحمد پوپل** ) لکه څرنګه، چي وتاسو ته بهتره معلومه ده چي پر هر نارينه او ښځينه باندي اسلامي علم فرض او د هر مسلمان د ژوند ضرورت دی. دا اسلامي راډيو د هري کورنۍ لپاره يوه بې مثله مدرسه ده چي پکښي اسلامي، اجتماعي او ادبي خپروني نشريږي چي په هر وخت اوځای کي د دوی د ژوند ملګرې ده او په ډېره آسانۍ سره علم او پوهه تر لاسه کولای سئ. د دې راډيو اورېدل د هري کورنۍ لپاره د دنيوي او اخروي سعادت يوه لاره ده .

**سوال: ستاسو په نظر د تعليم الاسلام ولسي راډيو په ټولنه کي د اخلاقي فساد په له منځه وړلو کي څومره اغيز او اثر لرلای سي؟**

**جواب**:( **ځوان شاعر حبيب الله قلم مل**):واقعاً د تعليم الاسلام ولسي راډيو په ټولنه کي د نورو راډيو ګانو په پرتله ډېر رول لوبولی دئ دا راډيو دالله جل جلاله لخوا يوه لويه پېرزوينه دکندهار و لس ته بولم چي په ټوله افغانستان کي دغه سي حرکت د هيڅ ټولني لخوا منځ ته نه دئ راغلی چي هغه دي وځوانانو ته د اسلام په برخه کي روزنيزه يا تعليمي زده کړه ورکوي دتعليم الاسلام ولسي راډيو په ټولنه کي خلکو ته دکارکولو تر څنګ د زده کړي يو لويه منبع ده چي داوا قعا په ټولنه کي يومهم رول لوبوي اوهغه کسان چي ديني زده کړوته يې لاس رسی نه لرل دوئ يو ارزو درلوده چي د خپل ورځنيز ژوند تر څنګ زده کړه وکړي د هغوئ لپاره دا يو طلايې چانس دئ.

**سوال: تاسو ته د تعليم الاسلام ولسي راډيو د خپرونو اورېدل د هري کورنۍ لپاره څومره مهمي او ګټوري ګڼۍ؟**

جواب: **بشير احمد ښوونکی**؛ د تعليم الاسلام ولسي راډيو اورېدل دهري کورنۍ لپاره زه دومره ضروري ګڼم لکه يو څوک چي په ژوند کي خوراک اوڅښاک ته ضرورت لري په خاصه توګه دخوندو، سپينږيرو ،ځوانانو ، حتی دمسجد د امام لپاره لا د تعليم الاسلام ولسي راډيو خپروني ضروري بولم چي په اورېدلو يې امام لا ډېر څه زده کولای سي نو د کورنيو لپاره دومره ضروري ده لکه ديو چول وهلي پر دېس لپاره چي اوبه وي.

**سوال**: (**تاسو د ديني ښووني لپاره د تعليم الاسلام ولسي راډيو رول څه ډول ارزيابي کوئ؟ جواب اختر محمد طالب .کتاب پلورنکی** ؛)

: د تعليم الاسلام ولسي راډيو يوازينۍ راډيو ده چي په کندهار کي اسلامي خپروني نشروي دهر مسلمان لپاره يې دا زمينه برابره کړې ده چي هغه په خپل کورکي د۲۰۰ سوه افغانيو په بدله کي اسلامي تعليمات ترسره کړي اوخپل ځان په اسلامي تعليماتو منورکي په اوسني وخت کي چي يهودواونصارا کوښښ کوي چي زموږ خوندي ،او ورونه فسق ،اوفساد ته وهڅوي اوذهنونه يې ورخراب کړي او دغه سي ميډياوي رامنځ ته کوي چي شپه او ورځ د ټولني د ذهنونو په خرابولو بوختي دي او کوښښ کوي چي زموږ ټولنه داسلامي تعليماتو څخه بې برخي پاته سي نو ويلای سو چي د تعليم الاسلام ولسي راډيو نه يوازي فسق ،او فساد له منځه وړي بلکي دخپلي ټولني روزنه په اسلامي تعليماتو کوي.

**سوال : د کورنيو اختلافاتو او شخړو په له منځه وړلو کي د تعليم الاسلام ولسي راډيو اثر او اغيز په کومه کچه درته ښکاري؟**

**جواب: مولوي صديق الله ميوندوال د کندهار پوهنتون استاد**) د خلګو تر منځ کش مکش هغه که په کور کي وي، که په ټولنه کي وي او که په مسجد کي وي اساسي لامل يې دا دی چي خلګ يودبل د حقوقو څخه ناخبره دي هر څوک په اسلام کي خپل حقوق لري . زما په نظر يوازينۍ او اساسي لامل د دې دغه دی چي زموږ خلګ د خپلو حقوقو څخه ناخبره دي چي د بل مسلمان حق تلف کول څومره غټ جرم دی د حديثو په کتابو کي راځي چي شهيد ته هر څه وربخښل کيږي د مسلمان حق نه وربخښل کيږي تر څو چي يې هغه کس په خپله ورنه بخښي کله چي يو انسان په دې وپوهيږي چي د پلار،مور، د همسايه، د مسلمان، او د نورو حقوق څه دي .نوموړيه په ديني علم منوره ټولنه لرلې وي.نو د دغه ناورين د له منځه وړلو لپاره يوازينۍ لاره د تعليم الاسلام ولسي راډيو اورېدل دي. په دې راډيو کي هغه راز مسائل چي مسلمانان روزمره ورسره لاس او ګريوان دي ورته ښودل کيږي چي زده کړه يې ورته رېنه ده که سړی ورته وګوري په ښه مهال ويش سره ورته بيانيږي تر څو مسلمانان ورڅخه ګټه واخلي او د خپلو حقوقو او د نورو مسلمانانو په حقوقو ځان خبر کړي .



سرچينه: http://www.taleemulislam-radio.com/